Kandahar. Kabul
Vol.11, No.8, Aqrab 1349
(October 1970)

کندهار



دحضرت سرور کائنات (ص) دخرقی مبارکی تاریخی ودانی چی زموږ
دمتدین اودیانت پالونکی ټولواک همایونی معظم اعلیحضرت
په امر او هدایت ئی دکاشی کاری، میناتوری، خطاطی اود
ترمیم نور کارونه شروع شوی دی پدې عکس؛ کښی ددغه
مقدس زیارت دښکلی ودانۍ ختیځه برخه لیدل کیږی

«نور تفصیل ئی په اتم مخ کی»

کندهار

د ۱۳۴۹ لمریز کال د لړم میاشت

خرقه مبارکه

په کندهار کښې د حضرت سرور کائنات رسول اکرم (ص) مبارکه خرقه چې د دغه مقدس زیارت د ودانۍ د اعمار کار د لوی احمدشاه بابا د زمامداری

په عصر کې شروع او په وروسته کې بیا تکمیل شو په اوسنیو وختو کې دغه ودانۍ د طبیعي عواملو له کبله د ترمیم وړ ګرزېدلی وه مجدد آزموږ د متدین او اسلام

خوښونکی ټولواک همایونی معظم اعلیحضرت په امر او هدایت سره ئې د کاشي کاری، میناتوری د ترمیم او د خطاطی او ښیښه کاری د ښکلا کارونه په ۱۳۴۳ کال

کې شروع او په ۱۳۴۹ کال کې به ئې عنقریب کار وپای ته ورسیږی .

کوم مواد چې د دغې ښکلې او تاریخي ودانۍ و ښکلاته ئې سر او سامان بخښلی دی هغه د دغې

ودانۍ په دننه او د باندنیو برخو کې د خطاطی کار دی چې د مبارکو سورتونو لیکل ئې په جلي خط سره دستاینې وړ دی چې دا هم د افغانستان د خطاطی

په فن کې د اسلام د مدنیت د تشهیر روڼه نمونه ګڼل کیږی د دغو کتیبو له مخې د کندهار د خلکو د خطاطی هنري ذوق ښه ترا معلومیدای شی

بل دا چې د دی مقدسی ودانۍ ښکلا د هر لیدونکی نظر ور جلبوی هغه یدغه ودانۍ کښې د رخام د ډبرو کار

دی چې د حکاکی او معماری په فن کې د دې مرمرینې ډبری نوعیت او نفاست چې د جلا او ښکلا له نقطه نظره ئې لری ممتازه نمونه بلل کیږی .

د حکاکی د صنعت دغه ډول کار چې پخوا د لاسی صنایعو په لړ کې راتی او اوس د متبوعه حکومت په خاصه توجه ئې مواد د صنعتی

لویو دستګاؤ په وسیله د هلمند د رخام د صنعتی مؤسسی یعنی د حجاری د فاریکی له خوا تهیه کیږی

پدې برخه کې د نوموړی مؤسسی همکاری د یادونې وړ ده .

د میناتوری فن چې د افغانستان د لرغونو مدنیتو

د تاریخ په بیلو بیلو ادوارو کې ئې ځلاندی دورې تیری کړیدی او تل ئې په ځینو حفریاتو کې د دې هیواد د مدنیت تاریخی عظمت راژوندی کړیدی او

اوس ئې هم په ګران هیوا کې د دی ښکلی هنر لرغونی او په زړه پوری نخښی لیدل کیږی د ته هم د دی مقدسی ودانۍ د ګنبدی د دننی

برخی او ځینو رواقونو د مینا توری، خطاطی او رنګ آمیزی کارونه چه ۶۳ کاله د مخه یوه اندازه تکمیل شوی وو اوس بشپړ او پیکه

رنګونه ئې په هنری صورت سره بیرته تازه شول چې د طلائی ځنځیر په شان د میده کاری او نازک کاری له حیثه

دومره په زړه پوری دی چې هر کتونکی په حیرت کې اچوی نو اوس چې د دی متبرکی ودانۍ د ترمیم چاری مخ پر بشپړیدو دی پر ټولو

مسلمانانو او اسلام خوښونکو وګړو خصوصا د کندهار پرښاریانو چې تل د دغه مقدس زیارت لپاره راځی

دا لازمه ده چې د دغه مقدس او متبرک ځای په ساتنه کې نور هم په مادی او معنوی لحاظ سهیم او خپله ملی او اسلامی وجیبه له همدی لاری څخه وسر ته

ورسوی څو دیوې ګډی روحیی د همکاری له لیاری د دغې مقدسی ودانۍ د نورو ملحقاتو او پارک کار لکه څنګه چې ښائی تکمیل او نور هم مزین کړه شی .

LIBRARY OF CONGRESS
ISLAMABAD OFFICE
18 APR 2005
6 CONTINUATION 6

دامتیاز خاوند : د طلوع افغان نشراتی مؤسسه
مسؤل مدیر: زلمی (بارک)

کندهار
میاشتنی خپرونه
ادبی ، تاریخی ، اجتماعی ، علمی
اداره: د شهیدانو واټ
د تاسیس کال ۱۳۳۹
د یوولسم کال اتمه ګڼه
پرله پسی ګڼه ۱۲۲

کالنی بیه
په کندهار کی [۲۸] افغانی
د هیواد په داخل کی [۳۲]
په د باندنیو هیوادو کی یوډالر

دلړم میاشت
۱۳۴۹ لمریز کال

د دې ګڼې مضامین

خرقه مبارکه	سرمقاله د پشتی د وهم	مخ
د ملګرو ملتو د پرانستلو پنځه ویشتم تلین	۱	مخ
د ملګرو ملتو د مؤسسی د منځ ته راتلو کال	۳	مخ
په ټولنه کی د مثبتو افکارو اغیزه	۶	مخ
افکار	۷	مخ
د خرقی مبارکی سوابق	۸	مخ
مرحوم صوفی عبدالحمید	۱۲	مخ
د لاس لیک څخه د باطنی پوټو اسرار څرک	۱۳	مخ
خلک او شاعر	۱۴	مخ
د ادب و بزمی	۱۵	مخ
د وطن صالح زوی	۱۹	مخ
متضاد ژوند	۱۹	مخ
د لویا نو خبری	۲۰	مخ
ابن عساکر	۲۰	مخ
ارامی لیک او ارامیان	۲۱	مخ
ارسطو او د هغه فلسفی معضلی	۲۴	مخ
د الماسو اصلیت او ماهیت	۲۶	مخ
د بعلبک شاعر	۲۸	مخ
د کندهار مجلی د مؤسسینو سره یو دوې خبری د پشتی د ریم		مخ

د کندهار دولتي مطبعه

دملګرو ملتو د پرانستلو
پنځه ویشتم تلین

✡✡✡✡

دعقرب دوهمه نیټه چې دعیسوی کال د اکتوبر د ۲۴ نیټې سره برابره ده دملګرو ملتو دستری جهانی او بین المللی مؤسسی د پرانستلو لویه او تاریخی ورځ ده.

داوس نه پنځه ویشت کاله دمخه په نړی کښی دجګړی دمخنیوی اجتماعی عدالت، مساوات او سولی دټینګولو، خپلواکی او بشری حقوقو دراژوندی کولو، استعمار او استثمار دمنځه وړلو او دټول عالم بشریت د لوړ تیا نیکمرغی او هوساینی په منظور د ستر و هیوادونو د عدالت غوښتونکو حق بینو او بشر دوستو انسانانو د نیک تدبیر او خیر غوښتنی له مخه دملګرو ملتو د جهانی مؤسسی د پرانستلو دلاری دټولو انسانانو ترمنځ کلك اتحاد او یووالی راغی او وئی غوښتل چی دټولی نړی د انسانانو په ګډون یوه داسی بین المللی مؤسسه جوړه کړی چی د (جامعهٔ ملل) تر پخوانی ټولنی ډیره مجهزه پیاوړی او د انسانانو په دردو خوړل شی کوم چی تر دوهمی لوئی جګړی، دمخه په نړی کی موجوده وه او دهغه وخت دځینو لویو هیوادونو لکه ایټالیی او داسی نورو له خوا د جامعه ملل مقررات مات شول او په نتیجه کی دوهم عمومی جنګ منځ ته راغی د ترخی خاطری او پخوانی پخی تجربی له کبله دملګری ملتو سخت پرخواشول دیوی خوائی دغړیتوب په ملتو سره ورځ په ورځ ددغی جهانی مؤسسی حیثیت قدرت صلاحیت او ارزښت زیات کړ او د بلی خوائی داوښودله چی د نړی بیل بیل ملتونه او انسانان کولای شی د بیلو بیلو عقیدو افکارو ملیتونو علیحده اجتماعی او سیاسی رژیمونو باوجود خپل جنجالونه کړ کیچونه او سخت اختلافونه د سولی په توګه د خبرو دلاری حل کړی او په نړی کی پوره امنیت جوړ او انسانان د هوساینی او نیک مرغی ژوند سر ته ورسوی.

دملګری ملتو لویه جهانی مؤسسه او د هغی لوی ارګانونه:

لویه اسامبله، د امنیت شورا اقتصادی او اجتماعی شورا، د قیمومت مجلس بین المللی عدلی محکمه او دارالانشأدی.

لومړی ځل په سانفرانسسکو کی د نړی د پنځوسو هیوادونو له خوا منځ ته راغله چی وروسته ورو ورونور هیوادونه هم دهغی په غړیتوب ومنل شول او اوس ئی شمیر یو سلو څلیر ویشتو ته رسیږی.

د نړی دوو لومړی او په تیره بیا دوهمی ستری جهانی جګړی انسانانو ته زیات مادی او معنوی درانه زیانونه ورسول، پدغو جګړو کی د یوی خوا په ملیونو انسانان (نارینه او ښځی) ووژل شوه، او د بلی خوا د نړی د مادی

او معنوی پرمختګ او انکشاف په لار کی د مترقی انسانانو فعالیت او مجادله ځای پر ځای ودریده بلکه نور هغه هیوادونه او انسانان چی جګړی ته نه وه داخل سوی په تنګ سول، د نړی والو اقتصاد صنعت او تجارت سقوط وکړ بیلو بیلو ناروغیو، فقر بیکاری او

د جګړی وېری انسانان سخت تهدید او په عذاب کړل او هغو یوی داسی مقتدری مؤسسی ته ضرورت درلود چی د ټولی نړۍ د لویو او وړو، پرمخ تللو او مخ په انکشافو خپلواکو هېوادو نماینده ګان ګډون پکښی وکړی چی د انسانانو ترمنځ جګړی له منځه یوسی سوله ټینګه کړی، بشری حقوق راژوندی او د هغو

پرټپونو باندی د ملهمو پنډ کی کښیږدی او د ټولو پخوانیو زیانونو جبیره به وکړی.

دغی جهانی مؤسسی په خپل پنځه ویشت کلنی عمر کی انسانانو د نیک مرغی،

هوساینی او خوشحالی له پاره په زړه پوری او ګټور اقدامات وکړل، زیاتی مستعمری یی خپلواکی کړی او غواړی چی د استعمار ټغر د مځکی له سر څخه بیخی ټول کړی څو

ځله یی نړۍ ته د یوی بلی سختی او ډیری خطرناکی جګړی څخه نجات ورکړ او اوس هم لوی جنجالونه په مخ کی لری. په هغو ټولو کی د عمومی بی وسلی کولو، اټومی او نورو داډول خطرناکو وسلو د منځه وړل

شامل دی.

افغانستان د دغی ستری بین المللی موسسی یو رښتین او وفادار غړی دی، زموږ هیواد په هر وخت کی د ملګرو ملتو د سترو اساساتو او بهترینو بشری مقرراتو پیروی کړی او کوی ئی او په دی ډول دیوی خوا د خپلو هیوادوالو د نیک مرغی د پاره د ملګرو ملتو د ګټورو پروګرامونو څخه استفاده کوی او د بلی خوا د هغی د حمایت د لاری د

نړی سولی او امنیت ته ګټه رسوی.

نن چی د ملګرو ملتو د جهانی مؤسسی د پرانستلو ورځ ده موږ د نورو نړی والو په څیر دغه ستره ورځ نمانځو او د هغی د خدمتو

ستاینه کوو او باور لرو چی د هغی په تدبیر او فعالیت به له نړی څخه جګړه او داسی نور جنجالونه ورک شی.

ځینی پاته محکوم هیوادونه به خپلواک شی او په نتیجه کی به په نړۍ کی دایمی سوله او امنیت منځ ته راشی.

په پای کی د دغی ستری او تاریخی ورځی

د راتګ له کبله ټولو نړی والو ته مبارکی وایو د خپلو خلګو او نړۍ والو دایمی نیک مرغی او لوړتیا د ملګرو ملتو په سیوری کی غواړو.

کار

کار یو څرګند قانون دی چی د ژوند له مفهوم سره تړلی دی بیکاری د مرګ معنا ښئی. ستا عزم او اراده که د کار سره تړلی وی نو د غمونو د غلامی څخه به آزاد شی.

که کار نه وای نه پوهیږم چی انسان به خپل ژوند څنګه سر ته رساوه؟

کار کول ننګ ندی بلکه بیکاری د ټولو بی ننګیو سر دی.

[هر هذ بور]

د ملګرو ملتو

د مؤسسې د منځ ته راتلو کال

دلږ م ۲ نیټه چې د ملګرو ملتو جهاني ورځ ده دغه ورځ په افغانستان او ټوله نړۍ کې په خاصو مراسمو سره نمانځل کیږي زه پدې ځای کې غواړم چې د دغې بین المللي مؤسسې د تأسیس او د بیلو بیلو ارګانونو او د هغو د وظیفو او مسئولیتونو په باب لنډ معلومات د کندهار د مجلې ګرانو لوستونکو ته وړاندې کړم.

د ۱۹۴۵ کال د جون په ۲۶ نیټه دغه جهاني مؤسسه د نړۍ د یوزر واوه سو ومیلتونونه اضافه د پنځو سو هیوادو نمایندګان چې په نړۍ کې د ښه تفاهم د راوستلو په غرض په سانفرانسسکو کې راټول شوي وه او په همدغه ورځ ئې د ملګرو ملتو منشور یعنې د ملګرو ملتو اساسنامه امضا کړه او څو هفتې وروسته پولینډ چې د ملګرو ملتو د اعلامیې د لومړیو لاس لیک کوونکو څخه په ۱۹۴۲ کې و او ولې نه کړای شوای چې په کنفرانس کې ګډون وکړي د ملګرو ملتو منشور ئې لاس لیک کړ. په ۱۹۴۶ کال کښې څلور هیوادونه ئې په عضویت کښې ومنل شوه همدارنګه په ۱۹۴۷ کال کې دوه هیوادونه او په ۱۹۴۸-۴۹-۵۰ کلو کې یو هیواد او په ۱۹۵۵ کال کې ئې نور ۱۶ هیوادونه ورپسې په ۱۹۵۲ کال کې څلور هیوادونه بیا په ۱۹۵۷ کال کې دوه هیوادونه او په ۱۹۵۸ کال کې یو هیواد او په ۱۹۶۰ کال کې ۱۷ هیوادونه همداډول په ۱۹۶۱ع کال کې څلور نور هیوادونه د دې مؤسسې په عضویت کې شامل شول چې پدې ترتیب ئې په ۱۹۶۱ کال کې دغه شمیر و (۱۱۰) ته ورسیدی.

د ملګرو ملتو بیل بیل ارګانونه او د هغو وظیفې

لویه اسامبله

دا د ملګرو ملتو اصلي رکن دی چې هلته عمومي مشوري مباحثې کیږي پارلمان او د شورا مجلس ته ورته ده لویه اسامبله چې په کال کې یو پلا دایریږي حق لري چې د ملګرو ملتو د منشور په حدود کې د ټولو مسئلو په باره کې بحث او مذاکره وکړي.

دغه رنګه حق لري چې د ملګرو ملتو د ټولو ارګانو د وظایفو او اختیاراتو په هکله خبرې وکړي لویه اسامبله کولای شي هغه څه چې د عمومي همکاري د پراختیا په باره کې د سیاسي اجتماعي اقتصادي ثقافتي تربیوي او روغتیا د چارو په هکله لازمي وګڼي د ملګرو ملتو او نورو ارګانو ته د هغو توصیه وکړي.

لویې اسامبلې د بین المللي سولې او امنیت د کومک د پاره د سولې د

نظارت یو کمیسیون او یوه اقداماتی کمیټه تاسیس کړیده .

هر غړی هیواد په لویه اسامبله کی نماینده لری که څه هم کولای شی د خپل غړو شمیر په غونډو کښی پنځو تنو ته ورسوی بیا هم هر نماینده تر یوی رای زیات حق نلری .

د امنیت شورا

د نړی د سولی او امنیت ابتدائی مسؤلیت د دغه شورا په غاړه دی، د یوولسو غړو څخه جوړه شوی ده چی پنځه غړی یی دایمی او شپږ نور ئی لویه اسامبله ټاکی او پنځه دایمی غړی ئی فرانسه شوروی اتحاد امریکا برتانیه او ملی چین دی .

نور غیر دایمی شپږ غړی ئی عمومی اسامبله د دوو کالو د پاره انتخابوی چی د دوو کالو تر بشپړیدو بلافاصله بیا نسی کولای انتخاب شی .

هر غړی د مجلس د یوی رایی ورکونکی دی .

د مجلس په ټولو مسایلو او موضوعاتو کی ئی طرز او روش د اداری مجلس دی .

د دایمی پنځو غړو په شمول او د موافقو رایو په لرلو سره جوړیږی .

د اقاعده د لویو هیوادو د رایو په اتفاق او په عمومی اصطلاح سره (ویټو حق) پیژندل شوی ده .

د دایمی غړو څخه د یو د رایی نه ورکول د ویټو په رایی سره نه تلقی کیږی .

اجتماعی او اقتصادی مجلس

اجتماعی او اقتصادی مجلس چی د لوئی اسامبلی تر نظر لاندی وظیفه اجرا کوی .

کوښښ کوی چی په نړی کی د انسانانو د سعادت، کامیابی عدالت په منځ ته راوړلو کی زیار وباسی او خپل پېشنهادونه او ګټور نظریات په دغه هکله لوئی اسامبلی ته سپاری .

د لزوم په وخت کی هیوادونه بین المللی کنفرانس ته را دعوت وی .

اجتماعی او قتصادی مجلس د ۱۸ غړو هیوادو څخه جوړ شوی دی چی شپږ غړی ئی هر کال د لوئی اسامبلی لخوا د ۳ کالو لپاره ټاکل کیږی او د خپلو وظیفو د سرته رسولو لپاره هر څو پلا چی ئی لازم وګڼی مجلس جوړوی .

د اجتماعی او اقتصادی مجلس تصمیمونه د مجلس د غړو د رایو په اکثریت سره نیول کیږی .

د قیمومت مجلس

د ملګرو ملتو منشور په خپل د قدروړ موادو کی د خود مختاری مځکو چی د خود مختاری مرحلی ته نه دی رسیدلی اعلام کړی دی چی پدې اعلامیه کښی څرګنده شویده چی لومړی د دغو برخو د اوسیدونکو ګټی ډېری د اهمیت وړ دی .

دوهم هغه غړی هیوادونه چی د دې سیمو د چارو د اداری لپاره مامور ه شوی دی .

د خپل دغه ماموریت او پاکی وظیفی د سرته رسولو په باب دا لاندی وعدی قبولی کړیدی .

د هغو د اقتصادی سیاسی اجتماعی او ثقافتی چارو د ترقی او پر مختګ موجبات راغونډی کړی خود مختاری ته دی پر اخوالی ورکړی .

د بین المللی سولی او امنیت سره دی مرسته وکړی .

بین المللی عدلی محکمه

د ملګرو ملتو د قضائی چارو اصلی رکن بین المللی عدلی محکمه ده چی ځای ئی د هالنډ په پایتخت لایهه کښی دی او د پنځلسو تنو قاضیانو څخه په مستقله توګه د امنیت د شورای د لوی اسامبلی څخه تاکل شوی جوړیږی :

بین المللی عدلی محکمه د ملګرو ملتو د اساسنامی جزء دی عدلی وظیفی سرته رسوی .

نو د ملګرو ملتو هر غړی په خپل سر هغی ته مراجعه کولای سی او هم وظیفه لری د خپلی دعوی په برخه کی دغی محکمی ته رجوع وکړی د دیوان د قضاوت او صلاحیت حدود په ټولو هغو چارو کښی ګډون لری چی دعوه لرونکی خواوی هغه ته مراجعه کوی او هم دا رنګه ټول هغه مسایل چی د ملګرو ملتو په منشور کښی ذکر شوی دی محترم ګڼل کیږی ،

په حقوقی مسایلو سربیره د امحکمه د حقوقی چارو نه پرته یوه بله دا وظیفه هم لری چی د حقوقی مسایلو نظر د مشوری له لیاری نظریه ورکوی .

دارلانشا

د ملګرو ملتو د مؤسسی پراخی او ډول ډول اداری چاری د هغه د شپږم ارګان یعنی دارلانشا په وسیله سرته رسیږی دغه مؤسسه ټول کال د نورو ارګانو په کار او خدمت بوخته ده او د هغو را استولی نقشه او د دستور العملونه په خپل وخت کی اجرا کوی



د دغی مؤسسی په مخ کښی د ملګرو ملتو سرمنشی قرار لری .

خو د امنیت د شورا په پیشنهاد او د عمومی ټولنی په تصویب په دغه وظیفه تاکل کیږی د ۱۹۴۶ کال د فروری په ۳ نیټه د ناروی د هیواد د هغه

بناغلی اوتانت د ملګرو ملتو سرمنشی

وخت خارجه وزیر فقید تریګولی د پنځو کلو له لپاره په دغه وظیفه وټاکل شو او لومړی اسامبلی د پنځمی دوری په غونډه کی نوموړی دوهم ځل د درو کالو لپاره وټاکی د ۱۹۵۲ کال د نومبر په میاشت کښی ئی استعفا وکړه .

په ۱۹۵۳ کال د اپریل په ۷ نیټه د سویډن د دولت وزیر فقید هامرشولډ د نوموړی پرځای د ملګرو ملتو د سرمنشی په حیث وټاکل شو .

نوموړی په ۱۹۵۷ کال کښی بیا په دغه وظیفه د پنځو کالو لپاره وټاکل شو .

خو د ۱۹۶۱ کال د دسمبر په ۸ نیټه په افریقا کی د الوتکی د الویدو په پیښه کی مړ شو .

او لومړی اسامبلی په ملګرو ملتو کی د برمالوی سفیر او نماینده بناغلی اوتانت د ۱۹۶۲ کال د اپریل تر ۱۰ نیټی پوری د سرمنشی د کفیل په حیث وټاکه او تر هغه وروسته د ملګرو ملتو د سرمنشی په حیث ئی تاکل شو او او س هم دغه وظیفه پر مخ بیائی .

تهیه کونکی «ع»

لیکونکی سید حسام الدین (حسام)

په ټولنه کی د مثبتو افکارو اغیزه

دهری انسانی ټولنی وګړی ددی استعدادلری چی په ژوندانه کی د اقتصادی، اجتماعی، فرهنګی، سیاسی او تربیوی لحاظه مخ په وړاندی قدمونه اوچت خپلی اړتیاوی لیری او د خپلو طبیعی استعدادونو په مرسته ژوند ته د خپلو اړتیاوو د تأمین په خاطر تغیر ورکړی او د نورو پر مخ وړاندی ټولنو او هیوادو د تجربو او ګټورو

اقداماتو څخه د خپل توان او طاقت په اندازه ګټه واخلی او خپل فردی اجتماعی او ملی ژوند ته نور هم پراختیا او وده ورکړی.

خو برعکس که دیوی ټولنی وګړی د خپلو اجتماعی چارو په سمبالولو او د نیمګړتیاوو په تأمین کی د خپلو استعدادونو څخه ګټه وانه خلی او د نورو پر مخ تللو هیوادو او ټولنو له تجربو څخه

استفاده ونه کړی او خپل اقتصادی، اجتماعی، سیاسی او فرهنګی ژوند د نورو په اراده متکی او پر خپل ځان او خپل ملی یووالی اتکا او باور ونه لری او څرګنده ده چی د دا ډول ټولنو او هیوادو په دننه کی د اجتماعی شعور د عواملو ریښو وده نه ده کړی او دا ډول ټولنی دیوه ستر آبرومند ژوند کولو په راز او مفهوم ندی پوهیدلی.

حقیقت دادی چی یو اجتماعی او اقتصادی انکشاف او وړاندی تګ هغه وخت تحقیق پیدا کوی چی دیوی ټولنی تولیدی قواوی وده او تکامل وکړی، د وګړو ترمنځ ئی په افکارو او ذهنیت کی مثبتو احساساتو ته وده ورکړی وی.

په خپلو منځو کی ئی د فداکاری متقابل احترام، د ټولنی او د

هیواد د حقوقو درناوی، او په کارونو کی د مسئولیتونو د درک احساس او افکار را بیدار او هغه پسی غښتلی او قوی کړی.

ځکه په تشو خبرو، د عینی او ذهنی شرایطو له تحلیل او د شرایطو

او امکاناتو له منځته راتلو څخه پرته د هر څه لاس په لستونی غوښتل دیوی ټولنی اقتصادی، سیاسی او اجتماعی موجودیت له ډاګه وهل او د ټولنی په سرنوشت لوبی کول دی او تاریخ هم دا ډول بی ځایه

او منفی احساسات محکوم او فاعلین ئی د ټولنی په وړاندی بی عزته له منځه وړی دی.

دیوی ټولنی د هر پرمختګ

او بدلون افکار باید مثبت او واقعی وی.

د ټولنی په مادی او معنوی ژوند کی ژوری ریښی ولری په ټولنه کی عمومی ذهنیت راویښ او افکار ئی د انکشاف او د خپلی ټولنی چارو د ښه تنظیم د سم درک سرحد ته رسیدلی وی.

په دغه عصر کی چی د بشری ژوند سترو قواوو د ساینس، تخنیک او نورو علمی انکشافاتو په رڼا کی د عالی تکامل په حال

کی واقع او بشری ټولنی ئی یو اوبل ته دا ډول سره رانیژ دی کړی چی ټوله په بین المللی سویه یو اوبل ته د متقابل احترام او په سوله کی د ګډ ژوند د سترو اساساتو په پیروی د ټولو ✿

هغو خنډونو او بدبختیو پرضد چی هر آن د بشر دغه د زرو کلونو تمدن تهدیده وی د سوچه ډکه مبارزه وکړی.

د نیکه مرغه نن چی زموږ په ګران هیواد کی دوړاندی تګ، ملی او اجتماعی چارو د سمون او په هیواد کښی د اقتصادی، صناعتی، عرفانی، عمرانی، زراعتی صحی او د نورو انکشافی پلانو او اصلاحی پروژو د تطبیق په هیله کلکه اراده راپیدا شویده او وینو چی همدا اوس یو شمیر اصلاحی او انکشافی پروژی بشپړه او یا د بشپړ کیدو سرحد ته ورځرمه شویدی.

خو سره د دغه ټولو بیا د عمومی هوسا ژوند او عمومی وړاندی والی په لاره کی زیاتی نیمګړتیاوی چی د بی سوادۍ، بی کورۍ ناروغۍ، بیکاری او نورو ناوړو مفاسدو څخه عبارت دی د یوه خنډ په حیث واقع او له منځه وړل غواړی.

خو د دې لپاره چی موږ په دغه نیم بشپړ پرمختګونو قناعت نوی کړی.

فرض دی چی د افغانی ټولنی هر وګړی د متقابل اعتماد او یوالی په رڼا کی د پرمختللو هیوادو په ګړندی کاروان پسی ګامونه چټک د ځان ځانی او بی اعتمادۍ منفی احساسات له ځانه لیری کړی او پر ځای ئی د اعتماد او ورورولی مثبت احساس په ځان کی پیاوړی او د خپلی ټولنی د شرایطو د خلاق تحلیل په مرسته د ملی وړاندی تګ راز درک، د خبرو پر ځای د خپل مثبتو کړو فیصدی زیاته، د ملی او اجتماعی چارو د ښه تنظیم. د مسئولیت مثبت احساس پیدا کړی او بالاخره د خپلواک او یومټی افغانستان د سرلوړی په خاطر د اساسی قانون او ملی وثیقی سترو ارزښتونو سره سم خپل ملی پرمختګ او مترقی ایډیالوژی پرمخ بوزی.

افکار

هغه ټولنه چی د ځان د بهبود له پاره نوابغ زیږوی معلومداره به ئی د درنو مصائبو دوره تیره کړی وی.

(رایستالی)

د ظلم نتیجه کور ورانی ده او د عدالت نتیجه کورودانۍ ده هغه څوک چی د دۍ دواړو څخه هر یو کوی نتیجه به ئی پخپله پر ده د ورایه معلومه وی.

(ژاربول)

تاسو درختی کری او د هغه له میوو څخه ځان مستفید ګرزوی ولی زه نه پوهیږم چی تاسی ولی د یارانی باغ نه کری ځکه د هغه میوه د ژوند تر ټولو خوږو خورازیات شیرین وی.

(سقراط)

د زمانی طوفانو زما پر سر د پیری سپینه واوره واورو له د عمر ګرد نومی د بدن پوست وچ کړ مګر د زړه له کوره می د محبت میلمه لاندی وتلی.

(بیناس)

د زیاتو خلکو د ګناه کاری سبب داندی چی پخپله ئی کومه ګناه کړی وی بلکه سبب ئی دادی چی نورو ته ئی د ګناه کولو موقع ورکړی وی.

(ارسطو)

مرتب: عبدالعلی د پوهنې لوی مدیر

خرقه مبارکه

دخرقې شریفې څرنګوالی:

دحضرت رسول اکرم صلی الله علیه وسلم مبارکه خرقه او قاقمه دوړیو یوه پنډه کامه ده چې په اصطلاح کې خلک هغه وړینه قاقمه بولی.

دوه لستوڼې ئې دقاقمې تراوږدوالی لنډ دی خرقه مبارکه داوښ دنازکو او خالصو وړیو څخه جوړه شوی او آسمانی رنګ لری - علاوه پر هغه یو ډول مخصوص برښ او تجلی هم لری خرقه مبارکه دانسان دجګوالی په تناسب لنډه ښکاری - استر او فراویزنه لری دمخ دوه پیشونه ئې نسبتاً زاړه او په یو وړین تار روغ شوی دی.



صدراعظم ښاغلی نوراحمد اعتمادی دهیواد دشمالی اولویدیځو ولایاتو دسفر په ترڅ کې دکندهار په خرقه مبارکه کې دعاکوی په عکس کې ښاغلی محمدصدیق دکندهار والی هم لیدل کیږی چې دده په خاصه پاملرنه ددغی مقدسی ودانی دترمیم او ښکلاکار عنقریب پای ته رسیږی

دخرقی مبارکی سوابق



دخرقی شریفی دودانی جنوبی برخه چی دخطاطی اوکاشی کاری
دبنکلاکارنی پای ته رسیدلی دی

داهمغه خرقه مبارکه ده چی حضرت رسول اکرم [ص] اودهغه پاکی کورنی په خپلو مبارکو لاسو تکنلی ده اوحضرت پیغمبر [ص] په دعمر په آخرو کی اغوستل.

په حجت الوداع اودناروغی په ورځو اوهم دوفات کیدو په وخت کی ئی اغوستی وه حضرت محمد [ص] دژوندپه وروستی ګړیو کی حضرت عمر [رض] اوحضرت علی [رض] ته وصیت وکی چی دغه جامه دی (په یمن کی) ابی عمر اوویس بن العامر القرنی ته وسپاری.

دحضرت رسول اکرم [ص] تروفات وروسته ددوی دمبارک امر سره سم حضرت عمر [رض] او حضرت علی [رض] مبارکه خرقه ویس بن العامر القرنی ته وسپارل.

ترهغه وخت پوری چی حضرت ویس قرنی ژوندی و خرقه مبارکه ئی پرخپل سر باندی ساتل دحضرت ویس قرنی تروفات وروسته خرقه مبارکه دیمن څخه راوړل شوه اودحرا په غار کی کښېښودل شوه څوچی شیخ الاولیا جناب دوست محمد (قدس سره) دوخت پوصالح سړی خرقه مبارکه دحرا دغاره څخه دټولو مسلمانانو دزیارت کولو دپاره بغداد ته یووړه- خرقه مبارکه د (یلدرم بایزید) بن سلطان مراد بن سلطان ارخان بن سلطان قراعثمان لو (دروم دعثمانی سلطنت مؤسس) ترزمانی پوری چی ابوالمنصور امیر تیمور کورګان (دافغانستان دتیمور یانو سرسلسله) بغداد فتح کړ په هغه ځای کی پاته وه.

په ۸۰۵ هجری کال کی کله چی امیر تیمور کورګان په جنګ کی یلدرم بایزید ته ماتی ورکړه او بغداد ئی ونیو نو ددې تاریخی سفر څخه دراګرزېدلو په وخت کی ئی مبارکه خرقه د متولیانو سره دبغدا د څخه دهغه وخت دارالسلطنت دسمرقند ښار ته راوړه او تر ۱۰۷۴ هجری کال پوری په هغه ځای کی وه.

په دغه کال د ختیځ ترکستان حکمران ابوسعید ارغلان چې د امیر تیمور کورګان د اولادې څخه شمیرل کیدی وغوښتل چې د محمد حبیب او شیخ محمد نیاز په واسطه

مبارکه خرقه د سمرقند څخه چینی ترکستان ته یوسي.

پدې وخت کې دوو تنو متولیانو شیخ اقا محمد او شیخ نظر محمد موقع غنیمت

وبلل او خرقه مبارکه ئې بلخ ته راوړل ترڅو چې د چینی ترکستان د حکمران ابوسعید ارغلان د تصرف څخه خوندی پاتې شي.

خرقه مبارکه تر ۱۱۰۹ هجري کال پورې چې د سبحان قلي خان د حکومت دوره وه پنځه دیرش کاله په بلخ کې پاتې شوه په همدې کال دوو تنو متولیانو

شیخ محمد ضیا او شیخ محمد نیاز وغوښتل چې خرقه مبارکه د بدخشان او چترال څخه تیره کړي او هندته ئې یوسي.

د بدخشان والي امیر یار بیګ

د دینې مفادو په غرض اجازه ورنکړه چې خرقه مبارکه دې د بدخشان د خاوري څخه وایستل شي او د جوزګون په ښار کې ئې مناسب ځای ورته وټاکي او هلته ئې

کښېښودل چې په همدې مناسبت ئې د جوزګون د ښار نوم په فیض آباد (د اوسني بدخشان مرکز) تبدیل کړ تر ۱۱۸۱ هجري کال پورې څلور او یا کاله خرقه شریفه په فیض آباد کې پاته شول او په

همدې سنه کښې اعلیحضرت احمدشاه بابا خرقه مبارکه په ډېر عزت او اکرام سره د فیض آباد څخه د پروان، کابل، میدان، غزني مقر، قلات او شهر صفا دلیاري کندهار ته راوړل.

د کابل په ښار کې د خلکو د زیارت کولو د پاره خرقه مبارکه د علي آباد په لمنه کې تقریباً اته میاشتې کښېښو دل شول او د اځای تر هغه وروسته د سخي په زیارت مسمي شو.

کله چې خرقه مبارکه د فیض آباد څخه راوړل کېده پر لاري پخواني متولیانو د هغه دواړه لستوني پرې کړه او بخارا ته ولاړل.

د ۱۱۸۲ هجري کال د لومړي خور پر نهمه خرقه مبارکه کندهار ته راوړل شول او په زړه جامع کې کښېښو دل شول - زړه جامع په هغه وخت کې د کندهار لومړی نوی مسجد و چې په ۱۱۷۲ هجري کال کې د اعلیحضرت

احمدشاه بابا په امر د بردراني په جنوبي برخه کې ودان شوی و - دا زړه جامع تر اوسه پورې د کندهار د ښار په څلورمه ناحیه کې شته.

خرقه مبارکه تر ۱۱۹۶ هجري کال پورې په هغه جامع کې پرته وه - د خرقې مبارکې اوسني ودانۍ چې د اعلیحضرت احمدشاه بابا په امر شروع شوې وه د تیمورشاه په عصر کې پای ته ورسیده او خرقه مبارکه ورته راوړل شوه.

د پورتني معلوماتو ماخذونه

پورتني معلومات د کندهار د خرقې شریفې د تاریخ له کتابه څخه چې د باغلي عزیزالدین خان وکیلي تألیف دی او د اعلیحضرت احمدشاه بابا د لښکر کښې له کتاب څخه چې د محمد انور هروي تألیف دی اخیستل شویدي.

د حضرت محمد [ص] له وینا څخه

څوک چې موږ پر یو کار مقرر کړو او معاش ورته وټاکو نو پرته له معاش څخه چې نور شي اخلي خیانت دی.

[ابوداؤد]

قاضي ته نه ښایي چې د غضب په حال کښې فتوی ورکړي.

[بخاري مسلم]

داعلیحضرت احمدشاه بابا تر زمانی دمخه خواجه‌گانو او متولیانو عادت در لود چې په جمعه او اختر و او د مصائبو په وخت کې به ئې د خرقې شریفې خو نه خلاصول ـ کله به ئې صندوق هم پرانستې او حتی بعضې وختونه به ئې د مخصوص صندوقه را ایستل او عندالاقتضا به ئې دیوه ښار څخه وبل ښار ته وړل .

اعلیحضرت احمد شاه بابا داکسار منعه کړ او امر ئې وکړ چې بیله د شاه له حکم څخه دې د صندوق سر نه خلاصېږي په همدې مناسبت ئې یو کال په خپله د صندوق کلې د ځان سره وساتل .

او پدې وختو کې چې د دغه مقدس زیارت ودانۍ د ترمیم وړ وګرزېده نو زموږ د دیانت پالونکی ټولواک همایونی معظم اعلیحضرت په امر او هدایت ئې د ترمیم کار د کندهار د والی ښاغلی محمدصدیق په پاملرنه او د

ښاغلی محمد افضل «شیر دل»



د حضرت سرور کائنات د خرقې مبارک د ودانۍ ختیځه برخه چې د خطاطۍ او کاشی کاری د ښکلا کار ئې ټوله بشپړ شویدی

کندهار د ښار وال ښاغلی محمد افضل «شیر دل» په سرپرستی په ۱۳۴۳ کال کښې شروع شو او عنقریب به سرته ورسیږي

د کاشی کاری، خطاطی، میناتوری، او ښېښه کاری د کار کړنې په تکمیلولو کې ئې په فنی ډول دغو لاندینیو کسانو برخه اخیستې ده .

د معماری کار ئې ښاغلو حاجی محمد نعیم مهندس او نصرالله فنی مدیر .

د خطاطی کار ئې مشهور خطاط ښاغلی سید محمد د میناتوری کار ئې نامی میناتور ښاغلی سید محمود .

د ښېښه کاری کار ئې ښاغلی حفیظالله

او د کاشی کاری کار ئې د مشهور کاشی کار حاجی خیرمحمد کلال پذریعه چې د نوموړی زیار او زحمت د ستاینې وړ دی .

«پای»

لیکونکی «غروال»

صوفی عبدالحمید

د کندهار هغه هنرمند چی په دواړو لاسویی

اوه ډوله خطلیکی

زموږ دښار په سوؤ او زرو خلك د جمعی په شپه خرقی مبارکی او د مسوی مبارك زیارت او جامع ته ورځی. د دوی توجه د دغو ځایو خطاطی او پر دیوال

خطی نقاشی جلبوی نو دا چی د هنر او ادبیاتو په دې ګڼه کی مو د دغو خطو او نقاشیو لیکونکی معرفی کړی وی و به وایو چی کندهار

په ترمخنیو ورځو کی د هنر له دغی برخی څخه نه یوا ځی بی برخی نه ؤ بلکه صوفی عبدالحمید غوندی هنرمند

یی په خپل غیږ کی روزلی ؤ چی په راسته او چپه لاس به ئی حیرت پاڅونکی خطاطی او نقاشی کوله.

مرحوم صوفی چی اؤوه کاله ترمخه په کابل کښی وفات شو پنځه اتیا کاله وړاندی په کندهار کښی

زیږیدلی ؤ، د ده پلار نصرالله خان نومیدی او کورنی یی مهذبه او منوره وه.

صوفی عبدالحمید د خطاطی هنر په کندهار او هرات کی زده



مرحوم صوفی عبدالحمید

کړ او کندهاری میر عطا محمد شاه خطاط د ده مستقیم او غیر مستقیم استاد ؤ دا هنرمند د ۲۲ کالو ؤ چی د امیر حبیب الله خان له خوا مؤظف سو چی د منزلباغ د تخت هنری نګرانی وکړی او د خرقی

مبارکی د ګنبدی داخلی رنګ آمیزی او خطاطی تکمیل کړی.

د دغو لویو کارو د سرته رسولو څخه وروسته ۵۸ کاله

ترنن پخوا د کابل حربی فایکی ته تبدیل شو.

څرنګه چی دا نابغه شخصیت په ریاضی او فزیك کی هم وارد ؤ نو هلته یی یو اتومات توپك او یوه د

مسافی معلومسولو آله اختراع کړه د عمر په نورو برخو کښی چی فنی او تخنیکی کارونه ورحواله کیده د (المیزان) آله یی

جوړه کړه چی د جنتری په جوړولو کښی کار ځینی اخیستل کیږی.

مرحوم صوفی د عمر یوه برخه د نړۍ په سیل هم تیره کړی ده.

(پاته په ۱۴ مخ کی)

دلاس لیك څخه د باطنی پوټو

اسرارو څرك څرنګه را ایستل کیږی

پورتنی استفهامی جملی
به تاسی په شك کښی اچولی
یاست یقین و کړی چی له
لاس لیك څخه د اخلاقی

پوټو اسرارو څرك په ښه شان
سره ایستل کیږی چی په
لاندنیو کرښو کښی به ئی
په لنډ صورت سره څیړنه
وشی .

ښه لیك او بد لیك

تاسی ته به ممکن معلومه
وی چی اکثره وتلی پوهان
خوش خطی نلری یعنی
لیك ئی غیر منظم او دویلو

قابل نه وی ددې یوازنی
سبب دادی چی دوی د لیکنی
په وخت کښی له چټکی څخه
کار اخلی او یا وروسته تر

لیکنی د زیات تشویشی او
تردد لرلو په اثر سره د څه
اضافه توب او یا کمبود په
وجه پر بعضو جملو باندی

خطونه کشوی نو طبعاً ئی
خط بدډول ښکاریږی بله
خبره لا داده چی د علمی
مشاغلو د ډیر ښت په نسبت

سره نه غواړی چی عمر دی په
خوش خطی سره ضایع شی .

په لاس لیك کښی د لیکو طرفونه

په لاس لیك کښی دایماً د لیکو
طرفونه ګاهی لوګاړهی کښته
ګاهی مستوی، او ګاهی کاږه
وی له مستوی لیکی څخه د
لیکونکی د ماحول حیرت او د
احتراس شدت ښکاریږی په لوړه
لیکه کښی تکبر او د اقدام د نشاط
دلیل پروت دی - کښته لیکه د
لیکونکی ناروغی ، جبن او د
ارادی ضعف ښیی او دغه رنګه
کږه لیکه ئی د مجاهدی او هغه
شی د التماس دلیل کیږی چی په
استطاعت کښی ئی نه وی .

د حرفو د اشکالو اهمیت

په لاس لیك کښی

د حروفو اشکال د لیکونکی
له ذاتی اخلاق سره پوره اړیکی
لری د متناسبو حروفو لیکونکی
پر انتظام او ترتیب باندی زښت
ډیر مین او له خوا پاکی سره
خاصه علاقه ښکاره کوی مګر

له بده مرغه څخه د حسن خلك
له ښه خو یه څخه پر مخ خلاص
دی د نیژ دی پر له پورو
حروفو لیکونکی هغه

وخت د زیات صبر او انتظار
څښتن وی چی په لیکنه کی
ئی (جیمان، ح ګانی ، سینونه
او شینونه) زیات ولیدل شی
د اوږدو حروفو لیکونکی

ډیر مستریح او باوقاره وی
د موښلیدل سوو حروفو
لیکونکی د زیات عجلت او
اقتصاد څښتن وی بالعکس

د جدا جدا او ټوټی سوو
حروفو لیکونکی چی په لیك
کی ئی تناسب حجم او د شکل
مساوی توب موجود وی
معتدل مزاجه او د عافیت

غوښتلو خواته زیاته هڅه
کوی د غیر متناسبو حروفو
لیکونکی متقلب، متردده
او ژر منقاد کیدونکی وی
د مستدق او مرتب لیك

لیکونکی چی په کلمو او
لیکو کښی ئی څه وسعت
موجود وی د مزاج د لطف
او عواطفو د رقت څښتن دی

(پاتې ۱۴ مخ کی)

(د ۱۳ مخ پاته)

صوفی عبد الحمید

د دوهمی جګړی په زمانه کی په المان کښی ؤ بیا یی دیورپ ځینی نور هیوادونه امریکا، چین او چاپان ئی وکتل او بیا چی هیوادته راغی نو دمطبعی چاری او په پای کی دضراب خانی کارونه ور وسپارل شوه .

نن چی موږ په خپل لاس کی دافغانستان هره سکه که فلزی وی او که کاغذی اړؤو نو دهغه نقش ددغه لوی سړی دماهر وګوتو محصول دی .

په خطاطی کی دصوفی ولی محمد (چی دنوموړی له اشنایانو څخه دی) په قول اوه ډوله خط لیکی اودایی هم په د واړو لاسو لیکلی شوای .

د صوفی عبدالحمید په ژوند کښی هغه په یوه اخباری مصاحبه کښی ویلی دی چی په پخوانیو خطاطانو کښی یی دمیر عماد او میرعلی خطونه اعجاز بللی دی، او په اوسنیو خطاطانو کښی یی دښاغلی عزیزالدین وکیلی (چی هغه هم کندهاری دی) خط ستایلی دی .

صوفی سربیره پرنوره هنرمندی شاعر هم ؤ چی اکثره منظوم آثار یی چاپ سوی او ځینی یی بی چاپه پاته دی .

د صوفی عبدالحمید وروڼه اوس هم سته او د کندهار دشیرعلی خان په کوڅه کی اوسېږی .

(د ۱۳ مخ پاته)

د لاس لیک څخه

دلویو لویو حروفو لیکونکی چی څه توسعه ئی په الفاظو کی ښکاریږی زیات مصروف اوسخی وی همدغه ډول د دقیقو اوشلېدلو الفاظو لیکونکی حریص اوزیات مقتصد لیدل کیږی که خط په حروفو کی ئی لامونه او (ف) ګانی نیغی ولاړی وی نو وپوهیږی چی دداسی سبک څښتن سست فکره او په جګړو، مناقشو کی صبور دی د مایل خط لیکونکی چی حروف ئی لنډ لفوظونه اولامونه ولری بی صبره اوژرژر فکر ځغلونکی دی دداسی خط لیکونکی چی (ب) یی له (ف) څخه نه بیلیږی چابک وار خطا په خپل کارؤ بار کی چندانی فکر نه وهی .

عبدالقدوس (ن)

خلک

او

شاعر

یوه ورځ هغه لوی او پراخ میدان هغه لوړ او اوچت غره ته وویل:

(ستا په وچولو کی د ژوند نښه هیڅ نشته ستا په مخ باندی همېشه دسیلیو او بادونو څپړی لګیږی) .

په همدغه وخت کی دؤلس خلګو شاعر ته وویل:

(ستاسو کارتل له خیال او اندیښنو سره دی اوستا وجود هیڅ ندی پکار) .

سنګین غره په جواب کی وویل:

(زه یم چی ستا له مینی نه هر راز بوټی راکاږم، دغه می سوزونکی تودوښه په خپل ساړه دم باندی سړومه .

دطوفانی وریځو مخه نیسم پخپلو ګوتو دواورو بڅری جوړوم او ذخیره کوم یی زما له سینی څخه داو بو لښتی روانېږی او تا ته پیغام دروړی .

شاعر هم خلکو ته وویل :

پریږدی چی زه سر پر زنګانه کښېږدم او فکر وکړم ایا تاسو نه وینی چی زما دزړه له چینی نه ډیری خوږی او به راخوټیږی چی دبشر تنده ماتوی .

(ط) «ګویټه»

لعل محمد «غریب»

خپل حبیب

خدای [ج] نصیب می کړی وصال د خپل حبیب
ما سیراب کړی په جمال د خپل حبیب
په حرمت د امامانو شهیدانو
راخر کند کړی خط و خال د خپل حبیب
که هر څو لیری جدا یم له حبیبه
ما واصل کړی په اقبال د خپل حبیب
دغه زما د زړه خازه ګلونه
ټول تازه کړی په شمال د خپل حبیب
دغه زما د تن تاریک مثال یو ځله
منور کړی په مثال د خپل حبیب
که هر څو یم زه بی حاله بی احواله
حال می حال کړی په حوال د خپل حبیب
په دنیا کښی د هر شی مثال ما ولید
ما ونه لیدی مثال د خپل حبیب
بل خیال نلرم په زړه کښی ای خاونده!
په خاطر کښی می دی خیال د خپل حبیب
زه (غریب) که بیا هر څومره بی کمال یم
ما کامل کړی په کمال د خپل حبیب

پیر محمد [کاکړ]

زړونه زانګی

چی پرمخ دی کړه خواره د زلفو ولونه
زړونه زانګی په هر تار لکه ګلونه
تور مژګان دی پر ما حکم کړی د قتل
تور وسترګو دی را پوری کړه تورونه
د واړه شونډی نی سکروټی دی نمنا کی
پر پخیږی صبح شام کوټلی زړونه
څه عجیب ملال کاته دی د ترکانو
چی تاراج نی کړه زما د خاطر خونه
ما وی تاته به د سق هغه ته ژاړم
تامی کښېنو پر سینه تازه داغونه

بی وصاله می دوامه کـــړه طبیبه !
روغ به کله شم دهجـــز له طاعونه
ځای لری که فلک توی لکه شبنم شی
چی په شپه می ورته ځی ساړه آهونه
سم قامت وتـــه دی سروه نه رسیږی
مجنون بیدسو ستا له غمه سر نکونه
پردنیا به ځه ښادی «پیر محمد» کاندی
په ارمان چی ځنی لیږدی زلمی نجونه

ښاغلی علی احمد [سلطانی]

نیم بسمل کله

که زما پـر لـوری کیږدی قدمونه
نو آسان به شی زما دشوار کارونو
چی هر ځه راسره کاندی خو ښه ستاده
که هر ځه کړی پرمانـدی ستمونه
شپه دهجر دی اوږده تر میاشتو کال شوه
نیم بسمل کله کـولای شی خوبونه
که دی یوار په دیدن موږ کړم صنمه
سرو مال می ستا دحسن دی نذرونه
وسوالو ته می غوږ نه نیسی هیڅ کله
په یوه جواب وایی دزړو جوابونه
الهی زما ددلبر زړه خو دسنګ دی
چی پروانکـــړی زما په فریاد دونو
په لیکلو به می غم هیڅ تمام نشی
که تصنیف ئی کړم له غمه کتابونه
[سلطانی] بی ګاوایی عاشقی نکړم
سبائی دعشق پرخوا وهی تاختونه

ښاغلی «باور»

ددښمن کوربه دی

ړنګ کړم

په درګاه کښی به دی ځان درته ملنګ کم
ځانه به خلاص دهری خوادنام ننګ کم
که حجاب دی دخپل مخه ځنی دور کړی
په طواف به دی ځان جوړ لکه پتنګ کم
ستادیدن ځما دپاره ډېر ثـــواب دی
مخامخ شه چی دی لیری دزړه زنګ کم
که دفتر دمحبت کی می نوم ثبت کـــړی
په شمشیر به دی رقیب په وینو رنګ کم
که دی ځان دمحبت په سند لاهـــو کی
زه به هم درپسی خپل ځان جوړ نهنګ کم
په خندا کـه دی «باور» ته نظر وکړ
په دې پوه شه ددښمن کوربدی ړنګ کم

محمد حسین [ریدی]

آزاد شعر

تخیل

د سیند پرغاړه لاس می ترغاړه
چی راسره وای اشنای می ګل وای
تیاره خپر یږی ستوری راخېژی
افـوش چی دی وای شراب و مل وای
چو په چو پتیاده د خیال دنیا ده
چاراته وی د شپی د څو خپاره سنبل وای

سپوږمۍ خنداکی پیغلی نڅاکی
زلمیان په مینه د جام مست مدام تل وای
د بنګړو شرنګ دی آواز د جنګ دی
څه چه به یی خوند کړای زلفی کاکل وای
باڼو یی غشی سترګی ئی برندی
کاشکی مجروح شم یا یی بسمل وای
د ناز کـاته دی د زړه خواله دی
زړه سجدی کړای ورته ژړل وای
زه مست له ده وای دی مست په میو
دواړه خوب وای حالت مو بل وای

چی شپه پخه شی مینه تـوده شی
پر سپین باړخو ئی ایله اور بل وای
زه چی غمجن یم په زړه خوږ من یم
پر دیس شهاته خدایه واصل وای
خوانی شوه تیره آرزوی خاوری
کامیاب په مینه د ها یستو [ریدی] یو ځل وای

دغرو غروب

سپینو د نګو غرو و نوشاته
زیړی لمر رورو پټیږی
ځماهیر او مړه بادونه
بیا می زړه کی ژوندی کیږی

●●●●

مامزیګر وږمه چلیږی
رپوی وحشی ګلـونه
په دروکی انکازه کړی
د زړو شپنیو غـږونه

●●●●

د کیږدۍ میرمنی پیایی
سیرلکی په شنو وښوکی
یو مکی ماشوم ویده دی
کیږدی لاندی په زانګو کی

د نښترو ګڼ څنګله کښی
کړونی سندری وائی
صحرائی ښائسته پیغله
یو جونګی او بوته بیائی

●●●●

د نښترو څانګو باندی
څنګلی مرغان چغیږی
د تورتم راتګ نژدی دی
ګوندی دوی ورته ډاریږی

●●●●

د شفق وروستی وړانګی دی
مچوی او چت ښا خونه
زه لاهسی چت کی ناست یم
زوروی می تیز بادونه
[محمود فارابی]

خواجه محمد [بنګښ]

زړه می ستا په محبت سره تړلی

چی پا دشائی دجمله وښائسته ؤ
خبرو اخله دعا جز خوار وخسته ؤ
زړونه مه ماتوه لعل د بدخشان دی
بیا مشکل دی رغول دشکسته ؤ
زړه می ستا په محبت سره تړلی
نظر وکړه په داخپلو دل بسته ؤ
دچمن ګلو نه واړه پری تازه شوه
شمال راغی ستا دمخ له ګل دسته ؤ
درست ئی ویستم له عقله له شعره
ستا خوږو خوږو خبرو آهسته ؤ
چی ئی قد قامت ستا په سترګو ولید
ملا شوه ټیټه دهمه و آراسته ؤ
ځما سر به تر دوهم آسمانه تیر شی
که می کړی دخپل مجلس له نشسته ؤ
یاره ستا په څیر نیک خو یه سړی نسته
مګر تازده کړه داخوی له فرشته ؤ
سرومال به همګی ځنی قربان کړم
زه [خواجه محمد] مرید دښائسته ؤ

[څلور ربځی]

سکندر که تر پښو ربع مسکون وکیښ
څه ارمان ئی په نا بوده ژوندون وکیښ
ښه نوم وګټی که نه غواړی چی مړ شی
ارسطو ئی په مزار دامضون وکیښ
«رشاد»

داغزی په څیر دګل سره همراز سه
په زیږه صورت دګلو ساتل زده که
نسترن سه په آغوش سرو آزاد کړه
تر هر بوټی دګلشن تاویدل زده که
[مرحوم سید حسن]

ښاغلی سړبن

منثور شعر

د وطن صالح زوی

ګرانو وطنه !

ستا د پراخی فضا په مکتب کښی چی د قدرت معلم ما ته د مرګ یا آزادی درس راکړیدی زه هغه هیروم، یا ګاهی ئی نه هیروم، د سر په ښندنه او دوینو په تویولو به د هغه معلم د نصیحت حق اداشی که یا؟ ستا په رڼو او بو او خوندورو نعمتو چی زما بدن پرورښ پیدا کړیدی آیا د هغه په عوض کښی به ته زما زخمی زړه او ټوکر ټوکر بدن قبول کړی؟

زه خو غیر له ایثار او فداکاری څخه بله هدیه نلرم ته دا هدیه ومنه او ما منون کړه. زه خپل کړه پر هیڅ نه بولم خو ته ئی څه وبوله خپل حق راپل او د عدم په غیږ کښی زما روح مستریح او آرام که.

زما روح چی د فداکاری میدان ته د آزادی ګټلو په غرض په ډېره خوښی سره حاضر یږی

نو د استاد پاکی غیږی د روزلو اثر دی نوای زما روزونکی موری زه د یوه صالح زوی په څیر ستا حق ادا کوم ته خپل صالح زوی له یاده مه باسه او دا ناچیزه خدمت ئی د خپلو نیکیو په بدله کښی مجرا که چی روح ئی ښاد شی.

دن، م [سوا] لیکنه:

متضاد ژوند

ځینی مادی پرستان دی
هغه نور بیا معنوی سرمایه غواړی
یو د دنیا په منجلاب کی ډوب دی
او هغه بل د آخرت ښاد ژوند ته هیله من
څوک د هر کار ظاهر ته ګوری او ځینی بیا د هغو باطن ته
څوک حق پټوی او ځینی بیا د هغو اظهار کوی
ځینی بیا په رشوت، غلا او قمار اخته دی
هغه نور بیا د هغو سره مجادله کوی

ځینی د عدل آرزومند دی او ځینی د چپاول
څوک د اولاد د نشوالی څخه ژاړی، هغه نور بیا د ناصالح اولاد څخه سر ټکوی
ځینی په دنائت، حیلی او تملق ژوند کوی
هغه نور بیا په شرافت، پوهی او میړانه
څوک خبرو ته په عبارا تورنګ ورکوی او څوک په معنی
خو پای ئی دا چی ټوله لالهانده دی
هر یو په کار اخته دی

هر څوک خپل عمل ته ښه وائی
بیله دې چی پوه شی
ښه کوم دی او بد کوم دی
ټوله یو پر بل تهمت وائی
دی د هغه عمل غندی او هغه دده

د جهل په توره تیاره کی
تور او سپین څه معلومیږی
د خطا او ثواب، پوه او ناپوه، حق او باطل تمیز څوک کوی؟

څوک د ماضی کلونو د حساب په تصفیی بوخت دی
او ځینی بیا د نن حساب ماضی ته سپاری

د لویانو خبری

تاریخ :

تاریخ د پاچهانو مشاوردی .

(دموستنس)

څرنګه چی د زمانی ژر تېر ېدل څوك نه شی راګرزولای دغه رنګه تاریخ هم څوك نشی خطا ایستلای .

(....)

لویان او متفکرین هغه خلك دی چی تاریخ دوی په وجود راوړی ځکه تاریخ د پاچهانو، فیلسوفانو پیشوایانو کاروائی ده .

(اسمایلز)

دیوولس تاریخ هغه بڼ دی چی د هغه اولس مېړونه او لویان ئی ګلان دی .

(ګوستاولوبون

تیره شوی زمانه لکه څراغ داسی ده چی د راتلونکی زمانی پر تاریکو باندی رڼا اچوی .

(ګوستاولوبون)

د تاریخ سیر د لویانو د ژوند پر جریان بنادی .

(کارلایل)

تیره زمانه داسی شی ده چی هر څه موږ ځنی لیری کیږو هغو مره ښایسته معلو میږی .

(فتی الرملی)

په تاریخی او اجتماعی کتنو کی تر هر څه د مخه باید اکثریت ته اعتبار ورکړه شی .

(ګوستارولوبون)

زموږ او سنی اوضاع د پخوانیو څخه پیدا شوی او راتلونکی اوضاع به ځنی وزېږی .

(....)

د نظام الدین (برکی وال) څیړنه

ابن عساکر

د ابن عساکر اصلی نوم علی او د حسن بن هبة الله بن حسن بن عبدالله حسین بن عساکر دمشقی زوی دی . چی کنیه ئی ابی القاسم یا ابو الحسن او لقب ئی نور الدین وثقة الدین او مشهور په ابن عساکر و .

دی د هجری شپږمی پیړی د نومیالیو مؤرخینو، فقهاؤ حفاظو او شافعی محدثینو څخه ؤ د لومړی د مقدماتی علمونو د زده کړی په کار پیل وکړی، او وروسته تر هغی ئی د علمی مراتبو د بشپړولو د پاره عراق او د خراسان ځینو ځایو ته سفر وکړ او په اصفهان او خراسان کی ئی د احادیثو په تعلیم او خپرونی شروع وکړه .

ده د ځینو مأخذو په حواله د (۸۰) ښځو او (۱۳۰۰) نارینه ؤ څخه احادیث اورېدلی او ګرده عمر ئی په تالیفاتو او تعلیم مصرف کړیدی .

نور الدین ملك عادل محمود بن زنګی د (دار الحدیث النوریه) په نامه هغه ته مدرسه جوړه کړه او د عمر تر پایه ئی هلته د احادیثو تدریس کاوه .

ابن عساکر د دنیا کارونو د ثروت خاوندانو، او بډایانو ته توجه نه درلوده او په پوره قناعت سره ئی ژوند کاوه .

د دمشق تاریخ چی (۸۰) مجلده ؤ او په تاریخ کبیر مشهور دی د ده د تالیفاتو څخه دی چی د ډیرو مؤرخینو د توجه وړده .

وائی دی ځینی نور دینی تألیفات هم لری او د شعر په ویلو کی ئی هم لاس درلود .

دی په (۵۷۱) یا (۵۷۲) هجری کال کښی په دمشق کی وفات شو او د باب الصغیر په مقبری کښی د خپلو او خپلوانو او معاویه (رض) څنګ ته ښخ کړل شو .

شیخ قطب الدین نیشاپوری پر هغه د جنازی لمونځ وکړ او ملك ناصر صلاح الدین یوسف بن ایوب هم د هغه د جنازی په لمونځ کی حاضر ؤ .

ښاغلی حبیب الله (تږی)

ارامی لیک او ارامیان

دادی بدی ګڼه کښی په ارامی لیک او ارامیانو خبری کو واو دا ځکه چی یو خو فنیقی لیک و روسته د دغه لیک له بدلیدلو نه په ارامی لیک سره د نړی په بیلو بیلو برخو کښی زښت ډیر خپور شو او بله دا چی د افغانستان لومړنی لیک هم همدغه ارامی لیک دی چی د هند او ایران د لارونه په بیلو بیلو بڼو ورته راننوتلی او بیا په تیریدو د مهال د افغانستان په ډیر لرغونی او اصلی یعنی خروشتی لیک بدل شوی دی

دارامی لیک په برخه کښی زه د خپل تحقیقی اصول سره سم لومړی پخپله ارامیانو ږغیږم او بیا دی ته راځم چی ارامی لیک کوم لیک ؤ، ځکه ګومان کوم تر څو چی سړی لومړی تر یو حده پوری پخپله د ارامیانو او د دوی د ژوندانه د زمان او مکان سره آشنا نه شی تر هغو پوری د نوموړی قوم د لیک په برخه کښی خبری کول څه پخی شانته نه بریښی.

ارامیان دارام - د شمالی سامیانو د قلمرو او یا د هغه مملکت او سیدونکی دی چی د بابل له لویدیځو سرحدونو نه د لویدیځی اسیا تر لوړو ځمکو پوری رسیده او مرکزی ښاریی د «الیپو» شمال ته زنجرلی ؤ چی ډیری زیاتی زړې کتیبی پکښی پیدا شوی دی. [۱]

دا قوم دا شور په زړو کتیبو کښی چی نیټه ئی ۱۳۲۰ پخوا له میلاد ته رسی دا خلامه او په را وروسته اثارو کښی د (ارامه) په نامه یاد شوی دی [۲] د (عادرام) لفظ هم چی په قران شریف کښی راغلی دی ښایی برغه یی همدغه ارامیان وی [۳]

دوی د مذهب ژبی او توکم له مخی د شمالی سامیانو یو ښاخ بلل کیږی [۴] او ځینی محققین یی لا د اسرائلیانو ډیر نږدی خپلوان ګڼی او وایی ارامیان د سوریی د سامی نژاده کوچیانو یو قوم دی چی د فلسطین په جنوب کښی د کویر خواته او دغه شپانه کوچیان چی دښت په دښت به د خپلو کیږدیو سره ګرځیدل، د اسرائیلیانو ډیر نږدی خپلوان وه مګر ځینی خلکو په غلط سره کلدانیان هم بللی دی. او ارامیانو له څورلسمی پیړۍ نه راپدی خوا خپلو ګاونډیو متمدنو مځکو ته مخه کړه چور او چپاویی پری جوړ کړ. [۵]

د (دجله) دغاړی نه بین النهرین ته ورننوتل په بابل کی کلدانیان چی لا هم د شمال خواته په یا نه کښی وه، ورسره مخامخ شول د (سوتی) پرګی هم چی له دوی سره د توکم له مخی ډیر نژدی وه او د دغی سیمی ډیره زیاته برخه یی د مخه لا نیولی وه، د دوی مخ نیوی ته یی بډې

---

[۱] دائرة المعارف بریتانیکا، د، ARAMEAN تر کلمی لاندې [۲] برهان قاطع مخ، ۲۰
[۳] سبک شنسی ټوک مخ، ۱۸۰ [۴] دائرة المعارف دارامین تر کلمی لاندی [۵] برهان قاطع ټوک ۱ مخ ۲۰.

ووهلی. خو بیا هم وروسته له دی نوموړی قوم اهمیت پیدا کړ او د آثارو خاوند شو.✡[۱]

دلومړی شلمانسر د اشور پاچا په ۱۲۸۰ کښی د ارامیانو سره په جګړه کښی ؤ.[۲] د اشور هیواد یی هم ونیو او وایی همدغه یرغل ؤ چی د اشور لرغونی دولت ته یی خاتمه ورکړه.[۳]

په هره خوا به چی د نوموړی قوم مخه شوه زګران به یی پخپل فرمان کړل. سوداګری به یی ترلاسه کړه په کاروانی لارو به ئی تسلط وموند او کومی ځمکی چی به یی ونیولی هلته به یی له خپل خوا شهریاران مقرر کړل[۴] په ۱۲۰۰ ق.م کښی یی دمشق، حلب او د سوریی نور واړه ملکونه خپل کړل او ښه قوی سوداګری یی شروع کړه[۵] په سوداګری کښی هم پوره غښتلی شول او دوی وروسته له فنیقیانو نه یوا ځنی سامی قوم دی چی د خپلی سوداګری نفوذ ئی هرې خواته خپور کړ په نینوا د اشور په پایتخت او بابل کښی یی سوداګری رونق لاره. او د سیاست نفوذ یی د سوداګری سره څنګ په څنګ په مخ ته.[۶]

ارامی ژبه چی په دوو لهجو ویشل شوی ده یعنی یوه عراقی لهجه چی د شرقی ارامی په نامه یادیږی او بله د سوریی فلسطین او طور سینا لهجه چی د غربی ارامی په نامه یادیږی.[۷] په نهمه ق م پیړۍ کښی په اشور کښی د ټول ولس ژبه وه یوازی په بابل کښی بومی ژبه د درباریانو او دینی مشرانو سره پاتی شوه پخپله فلسطین کښی هم چی د عری ژبی مرکز، په ۷۰۵ ق،م کښی ارامی ژبه سیاسی ژبه وه[۸] مګر د عربو د یرغل سره سم عربی ژبه چی د ټولو سامی ژبو سره اړیکی لری په اسانی سره د سامی قومونو په مځکو کښی رواج شوه او ارامی ژبه یی له منځه یووړه[۹] ارامیانو په ۱۰۰۰ ق،م کښی هغه الفبا چی یی د فنیقیانو څخه اخیستی وه پخپلو لیکنو کښی په کار واچوله، دی الفبا چی وروسته د ارامی لیک په نامه یاده شوه د نژدی او منځنی ختیځ له یوه نه تر بل سره پورې اغیزه وکړه او په ورو ورو یی میخی لیک رټ له منځه یووړ.[۱۰] داسی چی لومړی به هر چیری په میخی لیک څه لیکل کیدل، د لیک د خاوند نوم یا که دغه شی کوم خاورین نومی یا کوم بل شی ؤ د

✡ تاریخ الغات السامه پدی برخه کښی لیکی چی ارامیان دری زره کاله پخواله میلاده د کوم نامعلوم ځایه څخه په جزیرة العرب کښی په وحشی ډول د فرات جنوبی سیمو ته ورننوتلی دی او نږدې پنځلس پیړۍ یی په هغو سیمو کښی په یرغلګرۍ، وژلو او تالاکولو د بابل او پشور په ابادیو کښی تیری کړی دی مګر د بابل او آشور ټینګار په واسطه د پنځلسمی پیړۍ په شاوخوا کښی د سوریی خواته شړل شوی دی او په سوریه کښی یی د دولسمی پیړی په شاوخوا کښی په یرغلګرۍ ګوتی پورې کړی دی او په عراق، سوریه او فلسطین کی یی اړو دوړ جوړ کړی دی تر څو په پای کښی د سوریی په شمال کښی د کوچنیو کوچنیو دولتونو په جوړولو بریالی شول ح د اسرائیلو سره ئی په دښمنۍ او احوډب پیل وکړ د داؤد د پادشاهی په وخت کښی د ۱۰۰۰ ق.م په شاوخوا کښی د سوریی په مځکه کښی د څو کوچنیو کوچنیو ارامی دولتونو نه خبریو چی د فلسطین تر شاوخوا لکه (ارام دمشق) او (ارام صوبا) د (حوران) په مځکه کښی او (ارام بیت رحوب) او داسی نور (سبک شناسی ج ا ص (۷۰) ح ۱) (۱) تاریخ ایران مخ ۱۰۸ (۲) برهان قاطع مخ ۳۰. (۳) تاریخ ایران (۴) برهان قاطع مخ ۳۰. (۵) تاریخ ایران (۶) فرهنګ ایران باستان (۷) سبک شناسی ټوک مخ ۸۱۰ (۸) فرهنګ ایران باستان مخ ۱۵۲ (۹) فرهنګ ایران باستان مخ ۱۵۲ (۱۰) تاریخ ایران مخ ۱۰۸-۱۰۹.

پلورنکی یا پیرو دونکی نوم به یی په کومه څنډه باندی په ارامی لیك لیکل کیده، مګر وروسته ددی لیك لیکل دومره زیات شو چی دمصر، کوچنی اسیا، عراق او ایران په ټول قلمرو کښی یی عمومیت وموند او دحکامو او

پاچایانو مکاتیب او دملتونو روابط او دولتی ورځپاڼی او فرمانونه او عادی لیکنی واړه په ارامی لیك لیکل کیدلی (۱)

ارامی لیکونکی چی فنیقی الفبایی زدد کړی وه په لومړی سر کښی یی خپلی لیکنی

په فنیقی ژبه ولیکلی، سره لدې چی یی دغه ژبه نه وه زده، خو څرنګه چی دغه دوه لهجی یوه دبلی سره نژدې وی، نو یې حاجت پور کېده، وروسته یې همدغه فنیقی الفبا څنګه چی وه، د خپلی مورنی لهجی، ارامی دپاره په کار واچوله

له دې امله ارامی ژبې چی یی زده کړه دسامی ژبانو خلکو دپاره څه ګرانه وه، په ارامی لیك چی ساده الفبا وه، دسامی اقوامو واړه هیوادونه و نیول او له بحرالروم نه تر زاګروس او دپارس

ترخلیجه پوری بین المللی ژبه ګڼل کیدله. [۲]

په مصر کښی هم بومی ژبه یوازی په معمولی خلو کښی په هیرو ګلیف لیك چی هغه وخت ساده شوی ؤ، لیکل کیدله او په دولتی دیوانونو کښی او رسمی اسنادو او داسی نورو کښی

ارامی لیك په کار لویده [۳]

دځینو قرائنو نه څرګندیږی چی میخی لیك دورځنیو حوائجو دپاره په کار لویده او دغه لیك د کینلو دپاره اختصاص لاره، اما ارامی الفبا چی [۲۳] توری یی لرل دلیکلو دپاره اسانه وه [۴]

دارامی لیك په برخه کښی هم چی له کوم ښاخه دی، ډول ډول خبرې شوې دی، ځینو دا انګیرلی ده چی نوموړی لیك دمصر دهیرو ګلیف لیك څخه راوتلی دی، ځینی وایی چی دسامی ملتونو څخه بو ملت دغه لیك جوړ کړی دی. ځینی بیا لا هم وایی چی فنیقی لیك هم له دې څخه راوتلی دی ځکه وایی ارامی لیك له دوه زرو کلونو نه راپدی خوا موجود ؤ. [۵]

مګر څرنګه چی د نړۍ دالفبایی لیکونو د منشا ترعنوان لاندی وویل: دا لیك د فنیقی لیك څخه راوتلی دی

ارامی ستر آثار:

دتورات دوه برخی په ارامی ژبه دی د دانیال د کتاب یوه برخه چی د انتیوخس اپیفانوس (۱۶۴ ۱۷۵ ق.م) په وخت کښی لیکل شوی او

دانیال ته ئې نسبت ورکړل شوی دی دعزرا د کتاب برخه چی دق.م دریمی پیړۍ په شاوخوا کښی لیکل شوی دی، دغه ډول ترګوم (ترجوم-ترجمه) تفسیر چی په تورات لیکل شوی دی او ددوهمی ق.م پیړۍ نه شروع شوی دی، په ارامی ژبه دی.

دغه ډول تلمود (زده کړه) په همدې ژبه دی. چی یوه برخه یې د څلورمی میلادی پیړۍ په شاوخوا کښی په فلسطین کښی سره راټوله کړی ده او په غربی ارامی لهجه ده.

او بله برخه یی د (۳۶۷ او ۴۲۷) میلادی کال په شاوخوا کښی په بابل کښی راټوله شوی او تر پنځمی پیړۍ پوری مطلب پری ورزیات شوی دی او د بابلی تلمود په نامه یادیږی او په شرقی ارامی ژبه دی. [۶]

---

[۱] سبك شناسی ټوك اول مخ ۷۱ [۲] برهان قاطع مخ ۳۰-۳۱ [۳] فرهنګ ایران باستان مخ ۱۵۳.
[۴] برهان قاطع مخ ۳۱ [۵] سبك شناسی مخ ۷۱ [۶] برهان قاطع پهلوی کتیبی. هیننګ، مخ ۱۱-۱۵.

کابل

د عبدالصمد «نصرخوا» ژباړه

«۲»

ارسطو او د هغه فلسفی معضلی

چی هغه هم عبارت د روح یا لومړی آنتلکیا څخه دی د آنتلیکیا د کلمی لپاره یوه معنه معنی نه وه پیدا شوی حتی (سیسران) چی له فلاسفه ؤ څخه دی هم ئی د دغه لغت لپاره معنی

نه ده پیدا کړی لکه چی لیکلی دی: فکر کول، حس او ادراک کول د داسی شیانو په برخه کښی چی هغه لا واقع شوی نوی او په مثل د دغو نوری خاطری دی چی د ارسطو په

رابعه صنفو کښی داخل نه دی خو ارسطو په پنځم صنف کی چی کوم نوم ور ته تا کل شوی نه دی صرف روح دیوه داسی حرکت په طرز تلقی کوی او بیا هغه ته یو نوی نوم چی

آنتلکیا نومړی ورکوی، په هر حال ډیر لیدل شوی لیکل شوی او اوریدل شوی

دی چی ارسطو و ما دی سلک ته ډیر مائله ؤ که څه هم د نومړی استاد دغه تمائل

د ده د فلسفی په اساس له شبهی نه خالی دی خو بیا هم دغه استاد د روح یوالی او نه بیلیدونکی شی مدلله کړی

دی او د روح د مسلی په برخه کښی وائی:

دا ښکاره خبره ده چی روح د لومړی یووالی د لونکی دی ځکه چی پخپل عمل سره ټول له خپل موجودیت وقف کوی او بیا د اضطراب په خت کښی خپل ټول له موجودیت مضطرب کوی نو طبعی ده چی

پخپله موجودیوالی په حال کی د امتداد او ویش څخه خالی دی.

ارسطو روح ته درې مهمی خاصی تصور کوی لکه غذا، حس او ذکاء.

لومړی خاصه په ټولو مصفیه موجوداتو کښی شته او دوهم ئی په ټولو حیواناتو کښی پیدا کیږی خو دریم ئی یوازی د انسان لپاره ده ارسطو خپله هغه مفکوره چی د عقل په نامه ئی بولی پر دوه برخو

ویشی فاعل عقل او منفصل عقل د استاد په نظر منفصله عاقله د یوی املس لوحی په شان ده چی د فاعلی عاقلی پواسطه ورو ورو خپل ماهیت ښکاره کوی او بالاخره

د انسان سره د نیاته راځی او له انسان سره د د نیا څخه مګر فاعله عاقله عمومی او آبدی ده.

فزیک د ارسطو په نظر کی:

ارسطو عادت درلودی چی

په هر شی کښی ګډشی او تر څیړنی لاندی راولی لومړی ئی هغه نظریی چی په په دغه زمینه کښی له پخوا څخه موجودی وی یوه یوه ردول او په عوض کښی به ئی نوی بناوی چی

دده دماغی ابتکارات وه منځته راوړل همدغه وجه ده چی (باسیکن) انګلیسی فیلسوف د ارسطو په برخه کښی داسی وایی:

په ارسطو کښی هم د عثمانی شاهانو طرز موجود ؤ ځکه ده ګمان کاوه چی د ډاډ وړ حکمرانی یوازی د نورو وړو نو په وژلو کښی ده خو څرنګه چی پوهیږو دغه

مفکوره د سقراط څخه پخوا هم موجوده وه ارسطو د هیئت د علم په زمینه کښی

هم څه پرمخ تللی دی او د (فیشاغورث) د دغی نظریی سره چی وایی لمر د نظام عالم

مرکز دی موافقه نلری او مځکی ته ترجیح ورکوی د ده کوچنی کتاب چی دمترو ثوری په نامه دی پسله یوی سلسلی روښانه تجربو وائی نړی یوه دائره، ده او لمر

بیله توقفه بحرونه تبخیره وی او چشمی له منځه وړی او په نتیجه کښی لوی وچ میدانونه منځته راځی خو بالعکس هغه بخارونه چی هوا ته صعود کوی داوریځی شکل

پیدا کوی او داورښ په توګه بیرته مځکی ته رالویږی په دې توګه او به بیا ژوندی او منابع ئې پیدا کیږی نیل په مصر کښی دی د نیل او به وخپلو اطرافو ته تجاوز کوی

او اطراف ئې هم ورو ورو بحر ته نزدی کیږی پدې توګه نوی وچ ځایونه منځ ته راځی او نوی خشکی پیدا کیږی او برعکس ځنی قدیمه ځایونه له منځه ځی پدې توګه ټوله

نړۍ دیوه لوی حرکت په ما بین کی نشئونما او بیا په یوه انحلال سره تبدل کوی او دغه تبدلات په وارو وارو پیښیږی خو په ځینو وختو کی دغه تبدلات په لویه پیمانه

صورت مومی ژوند او مادی مدنیت چی په ژئولوژی اړو لری خرابه وی ئې او ډیر ځله لوی لوی فلاکتو ځمکه داسی لڅه کړی ده چی انسانان ئې

ونومړنیو دوروته راجع کړی دی په وارو وارو او په مکررو تجربو سره مدنیت خپل اوج ته رسیدلی او بیا بیرته په وحشت کښی لوېدلی دی بیا

پورته او بیا لوېدلی دی همدا وجه ده چی انسان له یوه حاله وبل حال ته اوړی او څرنګه چی انسانان په داسی توګه په یوه مشئومه تاریخی دائره کښی ژوند او حرکت کوی ئو ځکه ئې پر هغه

مځکه چی دوی ئې پخپل غیږ کښی لری سلطه او اقتدار ټینګ کړی نه دی .

دارسطو د ما بعد الطبیعیه مبادې

دارسطو په آثارو کښی د ځینو داسی آثار او لیکنو سره مخامخ کیږو چی د طبیعیه علومو پر برخه کښی تألیف شویدی دغه کتابونه

ارسطو (ما بعد الطبیعیه) بللی دی او د (متافزیک) کلمه له همدغه وجه منځته راغلی ده .

ارسطو پخپلو دغو آثارو کی ځنی عمومی مسئلی داسی تر څېړنی لاندی نیولی دی چی د هغو په

احوال او کیفیت اړه ئه لری بلکه دا مسئلی مطلق د هغو په ذات او وجود اړه پیدا کوی .

ارسطو حکمت ته د علم اسباب یا د علم مبادی وائی ځینو فلاسفه ؤ

چی د (مبادی او لهی په برخه کښی مطالعی کړیدی ارسطو وروسته بیا د کونیه ؤ لکه وجود، وحدت، طبیعت، قدرت کمال او نورو

شیانو د شا او خوا په پېژندنه کښی بحث کړی او لومړی وجود ئې د [الله] تر مفهومه رسولی دی او بیا یی څو داسی مسئلی چی د دغه مفاهیمو

سره مناسبت لری منځته راوړی او هری مسئلی ته ئې بېل بېل جواب ورکړیدی ارسطو عقیده لری چی نړۍ آبدی ده دا پخپل ذات کښی متحرکه نده بلکه یو محرک

ته اړه لری چی هغه لومړی محرک دی دا ازلی او آبدی محرک چی متحرک نه دی یوازی طبیعی علت هم نه دی بلکه د خپل ذات په حد کښی ذکاء ده چی حائز د لوړ سعادت دی .

ارسطو او سیاست :

دارسطو د آثارو په سلسله کښی د سیاست په نامه هم کتاب سته چی هغه موږ د سیاست په برخه کی لومړنی لوی علمی او فلسفی آثر ګڼو

او د دغه فیلسوف ځنی اساسی ټکی چی د سیاست او د دولت د اداري په حصه یی ښکاره کړیدی د ده د سیاست د کتاب څخه په لنډ ډول دلته راوړ .

ارسطو دولت یوه طبیعی ګڼی او د ده په نظریه د دولت اساس عائله کورنۍ ده او کورنۍ ټولنه منځته راوړی

چی په نتیجه کښی دولت جوړیږی او دولت د انسانی ټولونو د تکامل وروستنی مرحله ده .

[نور بیا]

۲

لیکونکی رهبر فاروقی
مترجم ښاغلی عبدالقدوس [ن]

دالماسو اصلیت او ماهیت

لدی وجهی څخه په ملک کښی بدامنی او بی انتظامی پیدا شوه مالونه چپاو او په زر وخلک مړه شوه څوهغه ووچی دا الماس د ګوالیاد نوی راجا رای نرسنګ نومی ته پلاس ورغلی

داسی هم ویل کیږی چی په ۱۳۰۴ عیسوی سنه کی چی علاوالدین د ملتوی پر راجا باندی بری پیدا کی نو پدی وخت کښی ذکر شوی الماس ده ته د تحفی په ډول سره واړندی شو.

بیا چی دوی دواړو په خپلو ما بینو کښی

صلح سره وکړه نو سلطان دغه الماس بیرته راجا ته ورکی او د بابر تر یرغله پوری دده د کورنی پلاس کښی ؤ.

د بابر الماس

راجا سکر ماجیت چی داری نرسنګه د کورنی جانشینه ؤ په ۱۵۲۵ ډاګ ته راغلی تر راتګ د مخه ئی خپل ټوله مالونه او نقدی دولت سره له جواهراتو او زرو د ساتنی په نیت د اګری کلاته واستوله ځکه چی له یوی خوا څخه هغه ځای محفوظ ځای ؤ او له بلی خوا

څخه ئی ساتنه دده پر ذمه شوی وه د خدای کړه وه هغه ؤ چی پسله زدوخورده څخه لودی ابراهیم د بابر له لاسه ماته وکړه بابر چی د اګری د کلا په اهمیت او په ډیرو خزانو پخوالا خبر ؤ ځکه تر هر څه د مخه ئی خپل زوی همایون

نومی د نوموړی کلا د نیولو په غرض هغی خواته واستاوه.

د بکرماجیت متعلقینو چی په ځانو کښی د خپګ کولو سیګ و نه لیدی نو د عجز والی له

مخی ئی د کوه نور الماس د تحفی په ډول سره همایون ته وړاندی کړی.

چنانچه بابر په خپل تزک کښی د نوموړی جواهر د پلاس ر او ډلو ذکر پلاندی ډول سره کړیدی «روز جمعه بست و دوم رجب در محلات اګره در منزل سلیمان فرملی فرود آمده شد

چون این منزل خیلی دور بود صباح آن کوچ کرده در عمارت جلال خان نګرات فرود آمده شد همایون که پیشتر آمده بود مردم در آن قلعه عذر کرده حیل کردن این ها از مسیر مردم ملاحظه کرده تجبرانه دست انداز نشود گفته تا آمدن ما را بر آمدرا احتیاط کرده

نشسته بودند بکرماجیت هندو که راجه ګوالیار بود از صد سال بیشتر که در ولایت ګوالیار پدر آن او سلطنت کرده بودند و بکرماجیت در وقت زیر کردن ابراهیم به دوزخ رفت اولاد و خیل خانه بکرماجیت در اګره بود در وقت آمدن همان خیلی بکرماجیت بخیال ګریختند

بودند مردمی که همایون ګذشته بود. ګرفته در مقام احتیاط می شوند همایون هم نمی - ګذارند که تاراج بکنند برضای خود جواهر بسیار به همایون پیش کش میکنند (کردن) ازین جمله یکی الماس شهرتی بود که سلطان

علاؤالدین آورده بود آن چنان مشهور است که یک قوم قیمت او را به نصف خرج روزمره تمام عالم ګفته بود غالباً هشت مثقال است در وقت آمدن من همایون بمن پیش کش کرد من باز به همایون بخشیدم».

په نوموړی تزک کښی دیوه مثقال وزن

څلویښت رتی لیکل شویدی پدې حساب سره نو اته مثقاله ۳۲۰ رتی کیږی او زموږ ددې وخت درواجی وزن له مخی دغه الماس ۲۶ تولی اته رتی راځی دفرشتی د

تاریخ مؤلف لیکلی دی چی ددې الماس قیمت دټولی نړۍ دیوې ورځی خوراک مهیا کولای شی او وزن ئې اته مثقاله یا ۲۲۴ رتی ؤ .

په هغه وخت کښی چی دګوالیار راجه ګانو د خلجی سلطان علاؤالدین له خزانی څخه په چور یو وړی دهغی دزمانی دمؤرخ په قول یو مثقال له ۲۸ رتی سره مساوی ؤ .

والدهٔ سلطان ممنون عنایت گردیده یک قطعه الماس که هشت مثقال وزن داشت ومبصر آن جوهر شناس قیمت آن زیاده حد قیاس می گفتند از خزینه

سلطان علاؤالدین خلجی بود او را از اولاد راجه بکر مساجیت بـــدست آمده پیش کش بابر نمود .

دسیرة المتأخرین مؤرخ چی لیکلی دی (الماس دلودی ابراهیم مور بابر ورکی د بابر دتزک له لیکنی سره چندانی سر نه خوری ددې مشهور کتاب داصلاح په غرض ځکه موږ پور تنی عبارت چی دکوه نور په متعلق ؤ دلته را نقل کی .

وایی یو وخت همایون سخت رنځور شو حال ئې دې اندازی ته رسیدلی ؤ چی بیخی له جوړېدو امید نه ورته کیدی ددولت خیر غوښتونکی بابر ته دامشهوره

ورکړه چی پاچا دی هغه شی پرده باندی خیرات کی چی ډېر پر ګران وی موږ خو په خپل جانب دکوه نور تر الماس ذیقیمته شی په شاهی خزانه کښی نه وینو بابر ددوی په جواب کښی وویل هغه ګران

او ذیقیمته شی چی له ما څخه سته هغه زما روح دی دهمایون دژوند په مقابل کی داد نیوی دولت او حقیر مال (کوه نور) څه حقیقت او واقعیت نه لری زه په خپله خپل ځان ترده فدا کوم په مجردی چی

دایی وویل ولاړ شو او درې پلائې پر بستر باندی چار چاپیر داو کرځیدی دده دصحت او دځان دندری کولو دعاوی دپاک خدای دربار ته وکړی .

روزی مرتضی علی کرم الله وجهه نگاه داشتند وآن روزی را که از چهارشنبه نگاه میدارند ایشان «بابر» از اضطراب وبی طاقتی از روز سه شنبه نگاه داشتند

هوا بغایت گرم بود دل وجگر ایشان تفیدو در روزهٔ مذکور دعا خواستند که خدایا اگر به عوض جان جان مبدل شود من که بابرم عمر وجان خودرا به همایون بخشیدم و درهمان روز حضرت فردوس مکانی در تشویش (بیمار) شد قریب در سه ماه صاحب فراش بودند .

ځنی بد بینه او په زړه تور خلک دا پر بخل باندی دده حملوی او وائې بابر دا الماس دکنجوسی له حیثه څخه پر همایون باندی خیرات نکی ددې کانو پر عقل او فهم باندی دفکر څښتنان باید وخاندی (او دوی ته ووایی چی دسړی

په نیز ځان ډېر اهمیت لری له مال دتذکره للواقعات جوهر آفتاب چی څخه دا ثابتیږی په هغه وخت کی چی همایون له سوری شیرشاه څخه ماته وکړه او فارس ته ولاړی هلته ئی خپل ټول جواهرات سره له یوه غټه الماسه شاتهماسب صفوی ته دتحفی په توګه ورکړه څرنګه چی په نوموړی کتاب

کښی وزن ندی تصریح شوی نو نشو ویلای چی دا به دغه دکوه نور الماس وی که بل له اکبر او جهانګیر څخه ددې الماس دلرلو کومه

لیکنه زما تر نظرنده تیره شوی شاجهان ځکه چی د الماسو ډېر شوقی ؤ البته دغه الماس بی دخزانی زینت ګرزیدلی وای اما دغو نه ویل کیږی چی دبند په وخت کی له شاجهان څخه ډېر قیمتی الماس ؤ . [نور بیا]

دفی عالم الرؤیا له عربی کتابه څخه

لیکونکی جبران خلیل جبران

مترجم نجیب

د بعلبک شاعر

(۱)

د بعلبکک په ښار کښی (۱۱۲) کاله تر میلاد دمخه امیر پر مرصع تخت باندی چی پر چاپیر ئی ښکلی مشلونه لګیدل ناست ؤ وښی لورته ئی کاهنانو وکیڼ لورته ئی مخورو ومخ ته ئی مؤظفو

عسکر ومنظم صفونه تړلی وه دخوندورو سندرو ویلو او سازو سروز تر ږغولو وروسته د وزیرانو مشر د امیر ومخ ته لاس پر نامه ودرېدی او داسی عرض ئی وکړ:

باداره! پرون دهند له حکماؤ څخه یو حکیم چی د پوهی او حکمت نښی ئی له تندی څخه له ورا معلومیږی زموږ مملکت ته راغلی دی دی له یوه جسده څخه وبل

جسد ته د روح د تقمیص وعقیدی ته خلګ بولی - او غواړی چی د خپلی عقیدې د ثبوت اظهار په مختلفو دلایلو سره ستاسی ومبارک حضور ته هم عرض کړی.

امیر وفرمایل را حاضر ئی کړی چی دهند د دغی عجیبی غریبی عقیدی په شاوخوا کښی «چی دمخه ئی هم لږ څه معلومات راڅخه شته» مفصل توضیحات راکړی پسله څو دقیقو څخه یو تک تور پرملا کړوپ سپین ږری وصالون ته داخل شو او د احترام سرئی وامیر ته ټیټ کړ امیر پوښتنه ځنی وکړه.

حکیمه! څرنګه اروحونه له یوه بدن څخه وبل بدن ته منتقل کیږی او د تناسخ د سلسلی قیام پر کومو دلایلو باندی منبی دی.

حکیم په ډیر انکسار سره عرض وکړ قربان دی سم دا روحونو

د انتقال مسئله یوه محققه او منلی مسئله ده لکه څنګه چی په بدن ئوی جامه اغوستل کیږی او زړه ځنی لیری کیږی همدغه شانته روح چی ابدیت لری او نه فانی کیږی د بدن زړه جامه پرټاکلی

وخت ایسته غورځوی او په عوض کښی نوی اغوندی مګر شقاوت او سعادت په عملو کښی د روح د جامی په نوی والی او زړوالی کښی لوی تأثیر لری:

کله چی وزیر د کلام د اوږد والی په سبب سره د امیر په تندی کښی د قلق او ضجر آثار ولیدل کرار ئی حکیم ته په غوږ کښی پوس پوسی وویل (نن هومره توضیح بس ده نوره به بیا په بل فرصت کښی عرض کړی) حکیم د

وزیر په اشاره سره سمدستی وخپلو ویناؤ ته خاتمه ورکړله او د کاهنانو په ټولی کښی مؤدب کښینستی

پاچا چی چار چاپیر سترګی ولغړولی درباری

شاعر ئی په سترګه نشو پوښتنه ئی وکړه آزما! شاعر چیری دی؟؟ دا ډیر عمر کیږی چی نه می دی لیدلی پخوا به هره شپه زما ومجلس ته حاضر یدی هیڅکله به نه ناغه کیدی.

له کاهنانو څخه یوه وویل یوه هفته دمخه د عشتروت د هیکل په رواق کښی ما ولیدی چی د لیری شفق ولورته یی داسی په ځیر، ځیر کتل چی تا به ویل د اوریځو په ټوټو کی خپله قیصده پلټی.

---

[۱] مدینة باالشام مشهورة بآثارها الباقیته الی یومنا - المجذ بعلبک په شام کښی د یوه مشهوره ښار نوم دی چی آثار یی تر اوسه پوری باقی دی.

بیا له قائدانو څخه یو
قائد رادمخه شو او داسی
عرض ئې وکړ: گرانه ټولو اکه
ما پرون د سروی د ونو په
منځ کښی ولاړ ولیدی چی
د شاعرانو افکارو په مینه
کښی داسی لاهو ؤ چی زما
وسلام ته بیخی ملتفت نشو.
د دربار مشر رادمخه شو

او ویی ویل نن می د قصر په
باغچه کښی ولیدی ژرور -
نژدې شوم ډنکر بدن، ژړ
مخ، او له سترگو څخه ئې د
اوښکو سیلاب بهیدلو په
حیرت کښی ؤ اچولم او خورا
متأثر شوم.

امیر چی د دوی د اویناوی
په ډېر حیرت سره واورېدلی
نو سمدستی ئې امر وکړ چی
ژر ئې را حاضر کړی څه
ور پېښه ده؟

عسکر او د حضور نور مؤظفین
د دربار د مشر تر قیادت لاندی
د هغه په میندلو پسی راووتل
په دربار کښی چپه چپا ئی

حکمفرما شوه ټول د بېوزلی
شاعر د راوستلو په انتظار
کی لاس ترزنی ناست وه.
پسله یوه ساعته څخه د
دربار مشر سا شړونکی په

ځغاسته وار خطا او طاق
ته داخل شو چی تا به ول هغه
مرغه دی چی د صیاد غشی
ژوبل کړی او د پناځای پلټی.

د احترام د رسم تر اجرا وروسته
ئی داسی عرض وکړ: (د شاعر جسد
مو د قصر په باغچه کښی مړ ومیند
د دې وینا په اروېدلو سره د امیر

بڼه تکه ژړه شوه او له ډېر تاثیر
څخه ئی تندی گنجی پیدا کړی
وضعیت یی پر بله خوا واوښت
سمدستی بیله درنگه څخه د باغچی
ولور ته له حاضرینو سره وپاڅیدی

کله چی دا نارو د درختو واحاطی
ته نېژدې شو هلته ئی د نامراده
ځلمی شاعر پر مړه حسد باندی
سترگی ولگیدی چی د یوې ونی
وبیخ ته د مړ او سوی گلاب د ماتی

څانگی په څیر سره خیرامانه
غزېدلی ؤ چی تا به ویل د شپو، شپو
بدخوا به دی اوس درآنه خوب
وړی دی پدې وخت له مصاحبینو

څخه یوه د ډېر تأثیر په حال کښی
داسی وویل وگوری له سارتگی
سره په مرگ لا څنگه غاړه په غاړه
شوی دی لکه ښائیسته ځلمی چی
یوه ښکلی پیغله په بغل کی ټینگه
نیولی وی.

بیا له قائدانو څخه یو رادمخه
شو او د خپل تأثر اظهار ئې داسی
وکړ:

اوس ئی لا د خیال په عالم کی
لکه څنگه چی ئی عادت ؤ د ستورو
وخواته سترگی برگی نیولی دی
چی ته به وایی د قادر خدای د جلوه
نمایی نظار کوی د کاهنانو
مشر د نورو کاهنانو په نیابت
امیر ته وویل زما په نظریه سره به

ښه وی چی دا د ملکوت بلبل د
مقدس عشتروت د هیکل له
څنگه سره ښخ شی په جنازه
کښی د ښار ټول وگړی باید
حصه واخلی نجونی دې

د مرگ مرثیی وایی او هلوکان
دی پر قبر او جنازه باندی
په لار کی او یاد دینی مراسمو
د اجرا په وخت کښی گلان

شندی ولی چی دی لوی شاعر
ؤ نو ښخیدل ئی هم باید په
شاندار و مراسمو سره وشی
امیر په داسی حال کی چی ټول
حواس ئی په ډېر حیرت سره

د شاعر د جسد وخواته متوجه
وه بیله دی چی خپلی سترگی
دی د ده نه مخه څخه وبلی
خواته واړوی یو واری د

(هو) سرور ته وښوراوه مگر
بیا یی ډېر ژر په ډېر حسرت
سره وویل په رشتیا که موږ
د ده د دې مړه جسد تکریم او
نمانځنه و نکړونو (آلهه)

او داد د ښتو ټول کاڼی او بوټی
به په کټکی را باندو خاندی
ښخیده ئی زه دلته مناسب
بولم ولی چی روح ئی په

دغه ځای کښی له بدن څخه
حق پولیت اخیستی دی بیا ئې
شاو خواته وکتل او هندی فیلسوف

ته ئی اشاره وکړه ور ته وی ویل
آیا د تناسخ په عقیده
سره به داسی وخت راشی چی

زما په روح دیولوی امیر د جسد جامه او د دغه نامراده شاعر په روح د دغسی زبردست شاعر د جسد جامه واغوستل شی او د هغه له طرفه څخه ئی زړه په صلو او مهربانیو سره چی د ټولو اکانو خاصه ده خوشحاله شی او د غمجن زړه نیمه خوا ارمانونه ئی پوره شی.

هندی فیلسوف داسی جواب ورکړ، اعلیحضرته لکه څنګه چی د ژمی تر تکلیف وروسته د پسرلی ملایمه هوا راځی او د مړاؤ ګلانو په اروحو ښکلی ښکلی نوی قمیصونه اغوستل کیږی همدغه شانته د هرچا وروح ته بیله استثنا څخه په تناسخ کی

داحالت پېښېدونکی دی د دې وینا په اروېدو سره د امیر ګنجی، ګنجی تندی لږ څه وغوړېدی او ډېر فکرجن د خپل قصر وخواته ستون شو هلته ئی هم د هندی حکیم په وینا ؤ کښی چرت بندؤ.

د میلاد ۱۹۱۲ کال

په قاهره کښی

(۲)

د څورلسم سپوږمۍ د حیاناکی پیغلی په په څیر سره مخ نیم کښه کـــــړ او په زرینو وړانګو سره ئی پرښار طلایی شال وغوړاوه د دغی منطقی امیر د خپل قصر له څنګه سره متفکر ناست ؤ کله به یی وفراخی فضا ته په حیرت

کتل او کله به یی د نیل په څپو کی د تیر ومشاهیرو د مجد وعظمت زړی خاطری پلټلی.

او د خیال په عالم کښی به یی د فاتحو ټولو اکانو د نمانځنی نظاره دا بولهول په وړاندی کوله.

ګاهی به یی بیا د شعبو او امموو مواکیبو

منظری له الاهرام څخه د عابدین تر قصره پوری تر ستر ګو دوری ایسته کیدلی د افکارو د عالم تر سیر وروسته یی وخپل نیژدې ندیم ته چی واړخ ته یی ناست ؤ او د قدیمو ؤ نو وشاعرانو

ډېر غرا قصیدا وغزلی یی یادی وی امر وکړ چی اوس می په شعری تلازماتو او باریکو سره د فکری مسیر مجرا ته تغیر ورکړه.

ندیم هم سم له دې امره سره پسله احترامه

له مراسمو څخه دیوې ډېری زړې قصیدی په ویلو پیل وکړ امیر بږغ پر وکړ زاړه فکړونه وزړوته پرېږده د نو وشاعرانو په مبتکر وشعرونو سره می وطبعیت ته فرحت ورکړه ندیم د احترام سر ټیټ کړ او د منحضرمو شاعرانو له شعرونو

څخه یی یو خوږ جذاب شعر ووایه امیر بیا بږغ پر وکړ ولی پوه نشوی د نو وشاعرانو څخه دیوه شاعر بدیع شعر ووایه ندیم د موشیح اندلسی د مقاطیعو ترنم شروع کړ امیر بیا بږغ پر وکړ تر دې لایو نوی شر ووایه ندیم پسله ډېر تعمق او تفکر څخه دیوه نوی بکر شعر په ویلو پیل وکړ

چی ټول ادبی صنایع پکښی مراعات شوی او د نازک خیالی ابتکار کښی یی ساری نه درلوی امیر ته چی دی شعر ډېر خوند ورکړ نو یی پوښتنه وکړه دا د چا شعر دی؟

ندیم عرض وکړ باداره! د بعلبکی شاعر شعر دی.

په دې وینا سره یواری د هغه شاعر زوړ نوم د امیر په خیال کښی ژوندی شو او هغه خاطری ور په یاد شوی چی د مرګ په وخت کښی ئی د

کاهنانو او قایدانو په حضور کښی برپایه شوی بیائی د نو موړی شاعر د شعر تر زیات توصیف وروسته ندیم مخاطب کړ او وی فرمایل - ندیمه شاعر هغه مرغه دی چی له لوړ عالم څخه راځی او په کښته عالم کښی نغمی بږغوی که یی دلته

څوک قدر ورنکړی بیرته لوړ عالم یعنی اصلی وطن ته عودت کوی هلته په فضا کښی دستورو څخه او دل شوی قمیص ور بخښل کیږی او د قدرت له طرفه څخه یی وافکارو ته ملکوتی اثر ورکول کیږی چی د امیر او فقیر زړونه یو شان وځانته جلبوی.

د[عطائی]لخوا

د کندهار د مجلی د مؤسسینو

سره یو دوې خبری

د کندهار مجله د طلوع افغان د نشراتی مؤسسی یوه میاشتنی خپرونه ده چی تقریبا د لس کلو نورا په دې خوا خپریږی او په خپل نشراتی سیر کی ئی د نشیب او فراز ډېری لوړی ژوری لیدلی دی .

د دې مجلی له پاره به دا کفایت کوی چی ووایو: دا مجله اوس د کندهار د فکر او قلم خاوندان پیژنی او کوم اعتبار چی یی د هیواد په مطبوعاتو کی پیدا کړی دی نو په د باندی نړۍ کی هم علمی او ثقافتی مؤسسات د هغی سره اشنا دی .

لس کاله پخوا د ازموږ د ښاریو منور لیکوال چی هغه وخت د دې ولایت د مطبوعاتو مدیرؤ د دې نیک فرهنګی اساس اقدام وکړ .

ښاغلی محمد ولی زلمی چی د دې مجلی د مؤسس حیثیت لری د مجلی د تاسیس په وخت کی د کندهار د یو شمېر منورینو فکری او قلمی همکاری ورسره وعده شوی وه او دا وعده زموږ د ښاغلو لیکوالو له خواتر یو وخت پوری پرځای وه .

خو! لکه هر حرارت چی وبرودت ته منجر کیږی نو هغه لومړنی تود - والی ورو ورو خاموشه کېدی خو دا مجله چی زه باید اعتراف وکړم په قتباس محکومه شوه.

که څه هم دا قتباس نقص موجود ؤ خو د هغی چلونکو د یو مشهور انګلیس ورځپاڼه لیکونکی (سامرست موآم) دا مقوله عملی کړیوه چی تریوی بی خونده لیکنی اقتباس هر کله افضله دی)

زه چی پر دغه موضوع یو نسبتا با مسؤلیته ږغیږم د هغی جنبه رسمی نه ده بلکه څرنګه چی د دې مجلی د مؤسسینو د ملګری افتخار می درلودی نو یو ځل دوی ته هغه وعدی وریاد وم چی د دې مجلی د تاسیس په وخت کی موسره کړی وی .

زه د دې مجلی د سلفو او حاضرو کارکونکو د کار د لمانځنی په ترځ کی دا خبره ضروری ګڼم چی زموږ د ښار هغه د فکر او قلم خاوندان چی د شرایطو او مقتضیاتو د پوهنی په اړخ کی د دغی عامه اشتها سره اشنا دی چی نن د لوستنی غذا غواړی دا یادونه کوم چی د خپل ښار د دغی یوې غنیمت نشریی لپاره په قلم او کاغذ ګوتی ووهی .

زه یو ځل بیا د دې ښار محترمو لیکوالو ملګرو ته دعوت ورکوم چی دا خپله مجله هیره نکړی او زموږ سره په دغه فرهنګی او ثقافتی خدمت کی ملګری واوسی . په درناوی

دخرقی مبارکی دودانی جنوبی برخه



دخرقی شریفی دبنکلی
ودانی دننه برخه